﴿ عليكم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين ﴾
رواه الترمذي

# عليكم بسنتي

په شپه او ورځ کې له ۱۰۰۰ څخه
د زیاتو سنتونو مستنده مجموعه

جمع او ترتیب
عبد الجلیل اخندزاده

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

"عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين" (الترمذي)

# عليكم بسنتي

په شپه او ورځ کې له ۱۰۰۰ څخه

د زياتو سنتونو مستنده مجموعه


جمع او ترتيب

مولوي عبدالجليل آخندزاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړ تياوې

د کتاب نوم : علیکم بسنتي

جمع او ترتيب : مولوي عبدالجليل "آخندزاده"

د چاپ کال: ربيع الأول - ۱۴۳۵ هـ

چاپ: ځلورم - تصحيح شوې نسخه

د چاپ شمير: ۳۰۰۰ ټوکه

یادونه: د تغیر او تبدیل پر ته د دعوت او اصلاح په موخه
دچاپ او خپرولو حقوق ټولو مسلمانانو ته خوندي دي

اعلاء السنن خپرندویه اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د موضوعاتو فهرست


لومړی باب ........................................ ۱۵

له فرض لمانځه نه وروسته اذکار ........................ ۱۵

د سهار او ماښام له لمانځه وروسته ځانګړي اذکار ..... ۲۵

دوهم باب ........................................ ۳۰

دسهار او ماښام اذکار ........................ ۳۰

اذکار ........................................ ۳۲

دریم باب ........................................ ۵۲

د ورځني ژوند مهم اذکار او سنتونه ........................ ۵۲

د خوب نه وړاندې سنتونه ........................ ۵۲

د قیام اللیل (تهجد) سنتونه ........................ ۶۳

د خوب ځخه له ویښېدو وروسته سنتونه ............ ۶۶

مسواک ........................................ ۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library




د پایزار اغوستلو سنت طریقه ........................ ۷۰

تشناب ته د ننوتلو او بیر ته وتلو سنتونه .............. ۷۱

د اوداسه سنتونه ............................ ۷۲

د لباس سنتونه ............................ ۷۷

د آذان سنتونه ............................ ۸۲

کور نه د وتلو او ننوتلو سنتونه .................... ۸۶

۱- له کور نه د وتلو دعا ............................ ۸۶

۲- کور ته د ننوتلو دعا ویل ............................ ۸۸

د مسجد اړوند سنتونه ............................ ۹۰

۱- مسجد ته پر وخت تلل ............................ ۹۰

۲- مسجد ته د تلو په وخت دعا ............................ ۹۰

۳- په آرامه اووقار سره تلل ............................ ۹۱

۴- مسجد ته پیاده تلل ............................ ۹۱

۵- مسجد ته د ننوتلو په وخت لومړی ښی پښه دننه کول ............................ ۹۲

۶- مسجد ته د ننوتلو دعا ویل ............................ ۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- لومړي صف ته وړاندې کېدل ........................ ۹۳
۸- تحية المسجد لمونځ کول ........................ ۹۳
۹- مسجد نه د وتلو پر مهال لومړی چپه پښه بهر ايښودل
........................................................ ۹۴
۱۰- مسجد نه د وتلو دعا ويل ........................ ۹۴
په لمانځه کې مسنون اذکار او دعاګانې ........................ ۹۵
۱- د تکبير تحريمه نه وروسته اذکار ........................ ۹۸
۲- د رکوع اذکار ........................ ۹۹
۳- د رکوع نه د پورته کېدو اذکار ........................ ۱۰۱
۴- د سجدې اذکار ........................ ۱۰۳
۵- د دوو سجدو تر مينځ اذکار ........................ ۱۰۶
۶- د تلاوت د سجدې ذکر ........................ ۱۰۶
۷- د سلام نه مخکې دعاګانې ........................ ۱۰۸
په لمانځه کې قولي اوفعلي سنتونه ........................ ۱۱۰
قولي سنتونه ........................ ۱۱۰
فعلي سنتونه ........................ ۱۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سهار لمانځه سنتونه ........................................ ۱۱۱
د وتر لمانځه سنتونه ........................................ ۱۱۲
په شپه او ورځ کښې نفلي لمنځونه ........................................ ۱۱۵
۱- د فرض لمنځونو سره سنت لمنځونه ........................................ ۱۱۵
۲- د اشراق لمونځ ........................................ ۱۱۵
۳- د څاښت (ضحی) لمونځ ........................................ ۱۱۶
۴- د ماز دیګر لمونځ نه وړاندې څلور رکعته ........................................ ۱۱۷
۵- د ماخوستن نه وړاندې نفل لمونځ ........................................ ۱۱۷
۶- نفل لمنځونه په کور (استوګن ځای) کې کول ........................................ ۱۱۷
د سترې طرف ته لمونځ کول ........................................ ۱۱۹
د سترې بعضې مسائل ........................................ ۱۲۰
د سترې فوائد ........................................ ۱۲۱
د استخارې دعا او لمونځ ........................................ ۱۲۱
د خاصو ورځو ځانګړي سنتونه ........................................ ۱۲۶
د جمعې د ورځې سنتونه ........................................ ۱۲۶
د دوشنبې او پنجشنبې د ورځې روژه نیول ........................................ ۱۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایام بیض روژې نیول........................۱۲۸
د عاشورا (۱۰ دمحرم) روژه نیول........................۱۲۸
د عرفات د ورځې روژه نیول........................۱۲۸
دجهاد اړوند دعاګانې........................۱۲۹
۱- د حکمران له ظلم نه د ځان ساتنې دعا........................۱۲۹
۲- دښمن ته ښیرا کول........................۱۳۱
۳- د دښمن سره مخامخ کیدو دعا........................۱۳۱
۴- د کوم قوم نه چې ویره لري دا دعا به وایي........................۱۳۲
۵- د جنګ پر مهال دعا........................۱۳۲
۶- د دښمن له محاصرې نه د وتلو دعا........................۱۳۳
۷- د دښمن د نظر نه د ځان ساتنې او پټیدو اذکار........................۱۳۳
۸- د جنګ له میدان نه د بیر ته راتلو دعا........................۱۳۷
د خلکو سره د لیدو کتو سنتونه........................۱۳۹
۱- سلام اچول........................۱۳۹
۲- په ورین تندي اوخندا سره مخامخ کیدل........................۱۴۰
۳- مصافحه یا لاس ور کول........................۱۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- نیکه او ښه خبره کول ........................ ۱۴۱
۵- د مجلس دعا ........................ ۱۴۱
۶- د مجلس کفاره ........................ ۱۴۲
د ډوډۍ خوړلو سنتونه ........................ ۱۵۰
د ډوډۍ نه وړاندې او د خوړلو پر مهال سنتونه ...... ۱۵۰
د ډوډۍ خوړلو نه وروسته سنتونه ........................ ۱۵۲
د څښلو سنتونه ........................ ۱۵۶
د سفر اړوند اذکار ........................ ۱۵۷
۱- د سپریدو دعا ........................ ۱۵۷
۲- د سفر دعا ........................ ۱۵۸
۳- د مقیم دعا مسافر ته ........................ ۱۶۰
۴- د مسافر دعا مقیم ته ........................ ۱۶۱
۵- په سفر کې تکبیر او تسبیح ........................ ۱۶۱
۶- د سهار په وخت د مسافر دعا ........................ ۱۶۱
۷- په سفر یا پر ته له سفر نه په یو ځای کې د کوزیدلو او
ودریدلو دعا ........................ ۱۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- بازار ته د ننوتلو دعا..............................۱۶۲
۹- کلي یا ښار ته د ننوتلو دعا ......................۱۶۳
۱۰- د خره د هنګاري په وخت دعا...................۱۶۴
۱۱- د چرګ د آذان په وخت دعا.....................۱۶۴
د موسم اړوند اذکار او دعاګانې ....................۱۶۵
۱- د نوې میاشتې لیدو دعا ..........................۱۶۵
۲- د موسم اولنۍ میوې لیدو دعا ....................۱۶۵
۳- د باد الوتلو په وخت دعا.........................۱۶۶
۴- د تالندې دعا ......................................۱۶۷
۵- د استسقاء لپاره څو دعاګانې ....................۱۶۸
۶- د آسمان شین کیدو دعا............................۱۶۹
۷- د باران وریدو په وخت کې دعا ..................۱۶۹
۸- د باران وریدلو نه وروسته دعا ..................۱۶۹
په اهل او اولاد پورې اړوندې دعاګانې..............۱۷۰
۱- واده کونکي ته دعا ................................۱۷۰
۲- د خپلې ښځې (میرمنې) لپاره دعا ................۱۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دخپلې ښځې سره کوروالي نه مخکې دعا......... ۱۷۱
۴- مور او پلار ته د اولاد مبارکي ورکول............ ۱۷۱
د خفګان او غم دعاګانې.......................... ۱۷۴
۱- چا ته چې يو کار مشکل شي د هغه دعا ........... ۱۷۴
۲- د پريشانۍ او غم ليرې کولو دعا................. ۱۷۴
۳- د بې قرارۍ دعا ............................... ۱۷۶
۴- د قرض نه د خلاصيدو دعا....................... ۱۷۷
۵- د شيطان د وسوسې لرې کولو دعا ................ ۱۷۸
۶- د بدشګومۍ بد ګڼلو دعا ......................... ۱۷۸
۷- د دجال له فتنې نه ځان ساتل.................... ۱۷۹
د مرض اړوند دعاګانې............................ ۱۸۰
۱- په بدن کې د درد احساسولو دعا.................. ۱۸۰
۲- د مريض پوښتنې په وخت هغه ته دعا............. ۱۸۰
۳- د ژوند نه د نا اميده مريض ځان ته دعا........... ۱۸۱
د مرګ اړوند دعاګانې ............................ ۱۸۳
۱- د مړي د سترګو پټولو په وخت دعا............... ۱۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د جنازې د لمانځه دعا ........................ ۱۸۳
۳- د جنازې د لمانځه نورې دعاګانې .................. ۱۸۴
۴- د ماشوم د جنازې دعا ........................ ۱۸۶
۵- د مړي وارثانو ته د تسلې دعا ........................ ۱۸۷
۶- د مړي ښخولو په وخت دعا ........................ ۱۸۷
۷- د مړي ښخولو نه وروسته دعا ........................ ۱۸۸
۸- د قبرونو د زیارت کولو دعا ........................ ۱۸۸
د شپې په پیل کې بعضې نیک آداب ........................ ۱۸۹
بعضې عمومي اذکار ........................ ۱۸۹
۱- استغفار او توبه ........................ ۱۸۹
۲- تسبیح ........................ ۱۹۰
۳- الله ﷻ او رسول الله ﷺ ته خوښې کلیمې ........................ ۱۹۱
۴- الباقیات الصالحات ........................ ۱۹۳
۵- د جنت د خزانو نه یوه خزانه ........................ ۱۹۳
٦- په نبي ﷺ باندې په کثرت سره درود ویل ........................ ۱۹۴
هره شپاشت د قرآن کریم ختم ........................ ۱۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلورم باب ........................................ ۱۹۷**

د قرآن او مسنونه اذکارو په ذریعه علاج .................. ۱۹۷
شرعي رقیة (دم) ........................................ ۱۹۹
د سحر (جادو) علاج په شرعي طریقه سره ........... ۲۰۵
هغه څه چې د سحر (جادو) نه ځان پرې ساتل کیږي ۲۰۵
که چیرته په چا سحر وشي نو هغه (مریض) دلاندې لاره
اختیار کړي: ........................................ ۲۰۷
د نظر (سترګو) علاج ........................................ ۲۱۰
له نظر لګیدو نه وړاندې تدابیر ........................ ۲۱۰
د نظر لګیدو نه وروسته دهغې علاج .................... ۲۱۱
د موضوعاتو فهرست ........................................ ۲۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# سريزه

الحمد الله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيّئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلّ له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن سيدنا محمداً عبده ورسوله صلى الله عليه وسلم تسليماً كثيراً.

**أمّا بعد:**

**قدرمنو لوستونکو !**

**په انساني ټولنه کې د فساد خپرولو او ترويج تر شا د انسان ازلي دښمنان نه ستړي کيدونکي کوششونه کوي، او دا دښمنان الله ﷻ انسان ته ور په ګوته کړي، ترڅو چې انسان پرهغوی برلاسی ترلاسه نه کړي د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاح او تربيت هر کوشش ناکام دی، ځکه خو ويل کيږي چې د دښمن پيژندنه د برلاسي لومړی شرط دی.

د انسان دښمنان په لاندې ډول دي :

لومړی د انسان خپل نفس: الله ﷻ فرمايي: "إِنَّ النَّفْسَ لأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ إِلاَّ مَا رَحِمَ رَبِّيَ إِنَّ رَبِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ ". (يوسف:۵۳)

ژباړه: " بې له شکه نفس په بدۍ امر کونکی دی مګر دا چې زما رب پر چا رحم وکړي بې له شکه زما رب ښنونکی او مهربان دی".

دويم دښمن شيطان دی. الله ﷻ فرمايي: "وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ. (البقرة :۱۶۸ )

ژباړه: " د شيطان پيروي مه کوئ بې له شکه هغه ستاسې ښکاره دښمن دی"

او نبي ﷺ فرمايي: "إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنْ الإنسان مَجْرَى الدَّمِ" (البخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: " بې له شکه شيطان د انسان په رګونو کې د وينې په څير ځغلي"

دريم دښمن د انسان لپاره هغه منافقين دي چې په انساني ټولنه کې يې په ظاهره د اسلام جامې په تن وي او د انسانانو په زړونو کې د اسلام مفاهيم شکمن يا هم تحريفوي او کفري غير شرعي مفاهيم ورته ښايسته کوي، معروف ورته منکر او منکر ورته معروف، اصلاح ورته فساد او فساد ورته اصلاح معرفي کوي.

څلورم دښمن کفار دي کوم چې د انسانانو د فساد لپاره شپه او ورځ لګيادي او انساني ټولنې ته د فساد اسباب مهيا کوي.

که د انسان پورتنيو دښمنانو ته ځير شو نو و به ګورو چې دهغو له منځه وړل د انسان لپاره خورا لوی ګواښ دی، لومړي درې دښمنان نفس، شيطان او منافق داسې دښمنان دي چې په سترګو نه ښکاريږي نو د هغو له منځه وړل به څنګه انسان ته ممکن وي او څلورم دښمن چې کفار دي په مادي وسائلو دومره مسلح دي چې په عالم اسباب کې پر هغوی برلاسی ناشونی برېښي، خو له دې سره سره بيا هم الله ﷻ خپلو بندګانو ته پر هغوی د برلاسي حکم کړی، او پدې لړ کې يې د بريا زيرې او وعده

(c) ketabton.com: The Digital Library



صرف خپلو نيکو او نږدې دوستانو او وليانو ته ورکړې او الله ﷻ وعده خلافي نه کوي.

الله ﷻ فرمايي: " أَلا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ" (يونس:۶۲)

ژباړه: "آګاه اوسئ چې د الله ﷻ په دوستانو به نه ډار وي او نه به دوی غمګين شي."

اوس سوال دادی چې د الله دوستان او اولياء څوک دي؟ هغوی الله ﷻ مونږ ته داسې را په ګوته کوي "الَّذِينَ آمَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ. لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَياةِ الدُّنْيَا وَفِي الآخِرَةِ لاَ تَبْدِيلَ لِكَلِمَاتِ اللَّهِ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ " (يونس ۶۳-۶۴)

ژباړه: "(د الله ﷻ اولياء) هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی او تقوی يې اختيار کړې. دوی ته د دنيا او آخرت په ژوند کې زيری دی. د الله ﷻ خبرې نه تبديليږي. او دا تر ټولو ستره کاميابي ده."

(c) ketabton.com: The Digital Library



او څوک چې هم دا صفت په څان، کې پيدا کړي نو الله ﷻ بيا ورته د دښمنانو پرخلاف داسې ډاډګيرنه ورکوي"وَإِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لاَ يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا إِنَّ اللّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ." (آل عمران: ۱۲۰)

ژباړه: "که چيرې تاسې صبر وکړئ او تقوی اختيار کړئ نو د دوی (دښمنانو) زور او قوت به تاسې ته هيڅ زيان ونه رسوي، بې له شکه الله ﷻ د دوی (دښمنانو) په کارونو باندې احاطه کونکی (برلاسی ) دی."

اوس پوښتنه دا ده چې انسان د الله ﷻ ولي يا دوست څنګه جوړيږي؟ ددې ځواب الله ﷻ پدې آيت کې فرمايي: " قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ." (آل عمران: ۳۱)

ژباړه : ووايه (ای محمد ﷺ) که چيرې تاسې له الله ﷻ سره محبت کوی نو زما پيروي وکړئ. الله ﷻ به له تاسې سره محبت وکوي او ستاسې ګناهونه به معاف کړي او الله ﷻ بښونکی او مهربان دی"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګویا د الله ﷻ محبت او ولایت ترلاسه کولو لپاره د ایمان او اسلام د ارکانو او واجباتو له اداکولو څخه وروسته د نبي ﷺ اتباع شرط ده، اتباع دیته وایي چې انسان د نبي ﷺ په قدم قدم کیږدي، په شپه او ورځ کې ټول هغه افعال او اقوال په خپل وخت او ځای عملي کړي کوم چې د نبي ﷺ له سیرت نه ثابت شوي وي.

کله چې انسان د نبي ﷺ اتباع په مواظبت او دوام سره شروع کړي نو یو وخت داسې راځي چې دا انسان د الله ﷻ ولایت او دوستۍ ته رسیږي او څوک چې هم دې مقام ته ورسیږي نو الله ﷻ خپل دې ولي او دوست ته بیا لاندې عظیم نعمتونه ورکوي:

لومړی: الله ﷻ په آسمانونو کې ملایکو ته اعلان کوي چې زه له فلان سره محبت کوم تاسې هم ورسره محبت وکړئ.

دویم: په ځمکه کې الله ﷻ ورته مقبولیت ورنصیب کوي بیا د دنیا مخلوقات هم محبت ورسره کوي.

له ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې نبي ﷺ فرمایي: إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ الْعَبْدَ قَالَ لِجِبْرِيلَ قَدْ أَحْبَبْتُ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَبَّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْض. (مسند أحمد، موطأ)

**ژباړه : الله ﷻ چې کله له خپل بنده سره محبت وکړي نو جبريل ؑ ته وفرمايي چې زه له فلان سره محبت کوم ته هم ورسره محبت وکړه، نو جبريل ؑ هم ورسره محبت کوي بيا د آسمانونو د مخلوقاتو په وړاندې اعلان وشي چې الله ﷻ د فلان سره محبت کوي تاسې هم ورسره محبت وکړئ نو د آسمانونو مخلوقات هم ورسره محبت وکوي او بيا (الله ﷻ) ورته په دنيا کې مقبوليت ورنصيب کړي.**

**دريم : کوم دښمنان چې د الله ﷻ له دې دوست سره دښمني کوي نو الله ﷻ د هغوی پر خلاف د جنګ اعلان کوي او خپل ولي پر هغوی برلاسی کوي.**

**الله ﷻ په قدسي حديث کې فرمايي :** "من عادى لي وليا فقد آذنته بالحرب" (البخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: "چا چې زما له دوست او ولي سره دښمني وکوله نو بې له شکه ما د هغه پر خلاف د جنګ اعلان وکړ"

څلورم: الله ﷻ د خپل دغه ولي او دوست جوارح دیته نه پریږدي چې له هغو څخه ګناه او فساد صادر شي، او همیشه ورته د نیکۍ توفیق ورکوي.

پنځم: د الله ﷻ دا ولي (دوست) چې کله هم له الله ﷻ څخه څه وغواړي نو الله ﷻ یې سوال قبلوي او دعایې نه رد کیږي.

الله ﷻ په قدسي حدیث کې فرمايي "... وَمَا يَزَالُ عَبْدِي يَتَقَرَّبُ إِلَيَّ بِالنَّوَافِلِ حَتَّى أُحِبَّهُ فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِي يَسْمَعُ بِهِ وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ وَيَدَهُ الَّتِي يَبْطِشُ بِهَا وَرِجْلَهُ الَّتِي يَمْشِي بِهَا وَإِنْ سَأَلَنِي لَأُعْطِيَنَّهُ وَلَئِنْ اسْتَعَاذَنِي لَأُعِيذَنَّهُ .." (البخاري)

ژباړه: "...زما بنده ما ته همیشه د نوافلو په ذریعه را نژدې کیږي تر دې چې زه ورسره محبت وکوم. او کله چې زه ورسره محبت وکوم نو بیا زه د هغه غوږونه جوړیږم په کومو چې هغه اوریدل کوي او زه د هغه سترګې جوړیږم په کومو چې هغه لیدل کوي او دهغه لاس جوړیږم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې هغه نيول کوي او زه د هغه پښې جوړيږم په کومو چې هغه تګ کوي. او که چيرې له ما څخه غوښتنه (سوال) وکړي نو خامخا به يې ورکړم. او که په ما سره له څه نه پناه و غواړي خامخا به له هغه څخه ورته پناه ورکړم"

دبنده د غوږونو، سترګو، لاسونو او پښو جوړيدو نه مراد دادی چې دا جوارح به دالله ﷻ درضا تابع ګرځي او نوربه په هغه څه کې استعماليږي چې د الله ﷻ خوښيږي. (فتح الباري، فيض الباري)

قدرمنو لوستونکو!

پورتنيو الهي او نبوي ارشاداتو ته ځير شئ چې الله ﷻ خپلو دوستانو او وليانو ته څنګه د هغوی په ازلي دښمنانو برلاسی ورکوي. کفار او منافقين چې د انسان ازلي دښمنان دي د هغوی پر خلاف د جنګ ذمه الله ﷻ پرځان اخلي. انسان چې ګناهونه په جوارحو ترسره کوي او ديته يې شيطان او نفس اماره بالسوء هڅوي. نو ولايت ته له رسيدو وروسته الله ﷻ د هغه ټول جوارح په خپل قدرت کې اخلي د هغه نفس اماره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالسوء په نفس مطمئنه بدل شي او جوارح يې د شيطان له ولکې نه ووځي او پدې ترتيب په ټولو دښمنانو برلاسی تر لاسه کړي.

په پورتنيو الهي او نبوي ارشاداتو کې د فرد، کورنۍ او ټولنې د اصلاح واضحه او مختصره تګلاره مونږ ته را په ګوته شوه او د اصلاح لپاره دا هغه لار ده دکومې په ذريعه چې نبي ﷺ د جاهليت د زمانې له سخت زړو او بې لارې انسانانو څخه د بشريت خواخوږي او لارښونکي جوړ کړل، او د هدايت او اصلاح لپاره همدا نبوي نسخه د هر زمان او مکان لپاره تر ټولو غوره وسيله ده.

امام مالک رحمه الله فرمايي " د دې امت وروستی نسل به اصلاح نشي مګر په هغه څه چې د دې امت لومړی نسل پرې اصلاح شوی وو"

د دې امت د لومړي نسل تربيت او اصلاح د نبي ﷺ سنتونو په اتباع سره شوې وه او د راتلونکي نسلونو لپاره هم د نبي ﷺ آخري وصيت هم دا دی: عرباض رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ د سهار له لمانځه وروسته داسې وعظ وکړو چې له سترګو اوښکې تويې شوې او زړونه پرې ولړزيدل نو يو کس عرض وکړو چې ای د الله ﷻ رسوله داسې ښکاري چې دا الوداعي(آخري) وعظ دی. نو مونږ ته څه وصيت کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



(رسول ﷺ) وفرمايل: "أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ ، وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ ، وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا ، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِي فَسَيَرَى اخْتِلاَفًا كَثِيرًا ، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ ، تَمَسَّكُوا بِهَا ، وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ ، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الأُمُورِ ، فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ ، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ." (مسند أحمد)

ژباړه: زه تاسې ته له الله ﷻ نه د ویریدو ، او د (امیر) د خبرې په اوریدو او اطاعت کولو وصیت کوم ،اګر که حبشي هم وي، ځکه که ستاسې څخه څوک زما نه وروسته پاتې شول نو ډیر اختلاف به وګوري، نو زما په سنتونو او د هدایت شووخلفاؤ راشدینو په سنتونو عمل وکړئ او پر هغې ټینګې منګولې ولګوئ، او (په دین کې له) نوو امورو پیدا کولونه ځان وژغورئ بې له شکه چې (په دین کې) هر نوپیدا امر بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده. "

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې په لاس کې دا مختصره کتابچه "عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي " د همدې نبوي وصيت يوه مختصره مجموعه ده چې پدې موخه ترتيب شوې چې ددې په ذريعه مونږ د خپل ځان، کورنۍ او ټولنې اصلاح وکړو. په نوموړې کتابچه کې د نبي ﷺ د ورځني ژوند لوی او مهم حرکات او سکنات ،افعال او اقوال را ټول کړای شوي دي، د نبي ﷺ د ژوند ټول مبارک حرکات پدې وړه او مختصره کتابچه کې را ټولول نه ممکن دي او نه مطلوب، د پراخه مطالعې لپاره د د سيرت معتبرو کتابونو ته مراجعه وشي.

قدرمنو لوستونکو!

دې خبرې ته هم بايد متوجه وو چې اصلاح او تربيت محض د کتاب په لوستلو او مطالعه نه کيږي بلکه اصلاح او تربيت د مسلسل عمل نوم دی. دتربيت علماء فرمايي چې تربيت د انسان په حرکاتو او عاداتو کې په مسلسل ډول قدم په قدم تغير راوستلو ته وايي. او دا کار په تش لوست نه ترسره کيږي بلکه د لوست نه وروسته تطبيق ته اړتيا لري. دا کتابچه پدې موخه وړه او مختصره ترتيب کړای شوې چې هر کس يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر وخت په سفر او حضر کې له ځان سره وساتلی شي او د ضرورت په وخت کې ورته رجوع وکړي او خپل هر حرکت د خوږ نبيﷺ په طريقه او اتباع برابر کړي، پدې توګه به إن شاءالله لږه موده وروسته د کتابچې ټول محتويات ورته حفظ او د ژوند عملي برخه وګرځي او د اللهﷻ ولايت به پرې حاصل کړي او له هغو ټولو نعمتونو نه به بهره مند شي د کومو وعده چې اللهﷻ له خپلو دوستانو او وليانو سره کړې.

نوموړې کتابچه که مور او پلار په خپل اولاد، د مکاتبو او مدارسو استاذان په خپلو شاګردانو او د مجاهدينو اميران يې په خپلو مجاهدينو توزيع کړي او پر هغوی يې د عملي کولو اهتمام وکړي، نو إن شاءالله ډير زر به د نبي کريمﷺ د دې مبارکو سنتونو عملي نمونې او برکات په خپل چاپيريال کې عملا وګوري.

کوشش شوی چې پدې کتابچه کې د سنتونو ترتيب له سهارنه تر بيګاه او له بيګاه نه تر سهاره د وخت په تسلسل سره ترتيب شي، خو د بعضو سنتونو او اذکارو په ورځني ژوند کې د بيا بيا تکرار له کبله هغې ته لومړی ځانګړې بابونه ترتيب کړای شوي ترڅو رجوع ورته آسانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې د الله ﷻ څخه غواړو چې دا مختصر عمل په خپل دربار کې قبول وګرځوي او د هغه قدرمنو مؤلفینو لپاره یې صدقه جاریه وګرځوي د چا له کتابونو څخه چې ددې کتابچې په جمع، ترتیب او ترجمه کې استفاده شوې او الله ﷻ دې یې د هغه چا لپاره هم صدقه جاریه و ګرځوي څوک چې ددې کتاب په ترتیب، خپرولو کې برخه اخلي .آمین یارب العالمین.

یادونه :پدې کتاب کې د احادیثو او فقهي مسایلو د توثیق لپاره د کتاب په نوم ذکر کولو سره بسنه شوې او د کتاب ټوک (جزء) او پاڼه نه ده ذکر شوې ځکه چې هر کتاب مختلف چاپونه لري او دهر چاپ پاڼې له بل چاپ سره توپیر لري مطلوبې حوالې ته د رسیدلو په خاطر د «مکتبة الشاملة» ته رجوع وشي.

اللهم صل وسلم على سيدنا وحبيبنا محمد وآله وصحبه أجمعين ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## له فرض لمانځه نه وروسته اذکار

الله عزوجل فرمايي : ﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ﴾ (ق: ۴۰)

ژباړه: «د شپې په يوه برخه کې، او له لمانځه وروسته هغه (الله ﷻ) په پاکۍ سره ياد کړه».

د پيغمبر ﷺ له سنتونوڅخه يو هم دا دی چې مسلمان د هر فرض لمانځه څخه وروسته دالاندې اذکار (دعاګانې) ووايي:

① اَللّٰهُ أَكْبَرُ (يو ځل).

ژباړه: الله ﷻ ډير لوی دی. (البخاري)

② أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ (درې ځلې).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له الله ﷻ نه بښنه غواړم. (مسلم)

③ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلاَلِ وَالاِكْرَامِ. (مسلم)

ژباړه: الهي! ته له ټولو عيبونو څخه پاک يې، او سلامتيا ستا له جانبه ده، بابرکته ذات يې، اې د لويي او عزت ورکولو څښتنه.

④ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَشَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اَللّٰهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. (البخاري، مسلم)

ژباړه: الله ﷻ نه پرته (سوا) بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه يو دی، شريک نه لري، هغه لره (د کائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاينه ده، او هغه پر هر څه قادر دی. الهي! ته چې (چاته) څه ورکړې، د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(څوک) بندوونکی نشته، او ته چې (له ځانه) څه بند کړې، د هغه (څوک) ورکونکی نشته، او ګټه نه کوي مالدار لره د هغه مال، ستا د عذاب (په لرې کولو کې).

⑤ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ. (مسلم)

ژباړه: له الله ﷻ نه پرته (سوا) بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه یو دی، شریک نه لري، هغه لره (د کائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر دی، هیڅ طاقت او قدرت نشته (د ګناه نه د ځان ساتلو او د نیکیو د کولو) مګر د الله ﷻ په مرسته سره، بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ معبود نشته، او بې له هغه نه د بل چا عبادت نه کوو، نعمت او احسان د ده له جانبه دی، ټوله غوره ستاینه هغه لره ده، بې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ نه بل د عبادت وړ معبود نشته، پداسې حال کې چې عبادت او بندګي مو خاص هغه لره ده، که څه هم کفارو ته خوښه نه وي.

⑥ سُبْحَانَ اللّٰهِ(٣٣ ځله)

ژباړه: پاک دی الله ﷻ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ(٣٣ ځله)

ژباړه: ټوله ستاینه الله ﷻ لره ده.

اَللّٰهُ أَكْبَرُ(٣٣ ځله)

ژباړه: الله ﷻ ډیر لوی ذات دی.

دا ټول ٩٩ ځله کیږي او سلم ځل پدې لاندې دعا سره پوره کړئ:

❁ لَا إِلَهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه یو دی، شریک نه لري، هغه لره (د کائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاینه ده، او همدی پر هر څه قادر دی.

فضیلت: له ابو هریرهؓ څخه روایت دی: هر څوک چې د لمانځه وروسته (۳۳) ځلې سبحان الله (۳۳) ځلې الحمدلله (۳۳) ځلې الله اکبر، ووايي ګناهونه یې بخښل کیږي اګر که د سمندر د ځګ په اندازه (زیات) هم وي. (مسلم)

⑦ اَللّٰهُمَّ أَعِنَّا عَلَىٰ ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ.

ژباړه: الهي! ما سره ستا په ذکر او شکر، او په ښه توګه ستا د عبادت کولو کې مرسته وکړه. (ابو داود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



⑧ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. (البخاري)

**ژباړه: الهي! زه په تاسره له بې زړه توبه پناه غواړم، او په تا سره له دې نه پناه غواړم چې تير عمر ته ورسول شم، او په تا سره د دنيا له فتنې څخه پناه غواړم، او په تاسره د قبر له عذاب څخه پناه غواړم.**

⑨ رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ. (مسلم)

**ژباړه: ای زما پالونکيه! ما له خپل عذاب څخه په هغه ورځ وژغوره په کومه ورځ چې ته خپل بندګان بيا را ژوندي کوې.**

⑩ **آيت الكرسي:** (له هرلمانځه نه وروسته يوځل).

(عمل اليوم والليلة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾

ژباړه: «الله ﷻ (هغه بر حق معبود دی چې) بې له هغه نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه هميشه ژوندی دی، (د کائناتو) تدبيرونکی دی، نه پر هغه پر کالي راځي او نه خوب، څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي ټول هغه لره دي، نشته څوک چې د ده په وړاندې بې د ده له اجازې نه (د چا لپاره) شفاعت وکړي، پوهيږي په هغه څه چې له هغوی نه وړاندې دي، او په هغه څه چې له هغوی نه وروسته دي، او (هغوی) د ده له علم نه په هيڅ شي احاطه نشي کولای، مګر کوم شی چې الله ﷻ وغواړي، کرسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې پر آسمانونو او ځمکې احاطه کړې ده، او د (آسمانونو او ځمکې) ساتل هغه نه ستړی کوي، او هغه لوړ او لوی دی».

فضیلت: له ابو امامه الباهلي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «څوک چې دا (آیت کرسي) له هر لمانځه نه وروسته ووایي جنت ته د ده د داخلیدو مانع فقط ژوند دی (که وفات شي نو جنت ته به داخل شي)». (النسائي)

⑪ آخریني درې سورتونه تلاوت کول (له هرلمانځه نه وروسته یو ځل اودسهاراوماښام نه وروسته۳ځلې) (ترمذي، ابوداود)

﴿بِسۡمِ اللَّهِ الرَّحۡمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿ قُلۡ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۝ اللَّهُ الصَّمَدُ ۝ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ۝ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: «ووايه (اى محمده ﷺ!): دا چې الله ايكي يو دى، الله بې نيازه دى، نه يې څوک زيږولي، او نه له چانه زيږيدلى، او هيڅوک هغه لره سيال نشته».

﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۞ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۞ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۞ وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ۞ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾

ژباړه: «ووايه (اى محمده ﷺ!): پناه غواړم په پالونكي د سهارسره، د هغه څه له شر نه چې ده پيدا كړي دي، او د تيارې شپې له شر نه چې كله تكه توره شي، او د پوكي كونكيو (جادوگرو) ښځو له شر نه چې پو كل كوي په غوټو كې او د حسد كونكي له شر نه چې كله حسد وكړي.

﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۞ مَلِكِ النَّاسِ ۞ إِلَٰهِ النَّاسِ ۞ مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْخَنَّاسِ ۞ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ۞ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ﴾

**ژباړه: «ووايه (اى محمده ﷺ!): پناه غواړم د خلکو په پالونکي سره، د خلکو په ټولواک سره د خلکو په معبود سره، د وسوسه اچونکي، پټيدونکي (شيطان) له شر څخه، کوم چې د خلکو په سينو کې وسوسې اچوي، له پيريانو څخه وي، او که له انسانانو څخه».**

**⑫ دعا کول: د ابو امامه ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه، کومه دعا ښه قبليدونکې ده؟ ويې فرمايل: «د شپې په آخري برخه کې دعا کول، او له فرض لمانځه څخه وروسته».** (الترمذي)

**شيخ الحديث وفقيه المحقق مولانا محمد انورشاه الكشميري الحنفي رحمه الله فرمايي**" واعلم أن السُّنة الأكثرية بعد الصلوات .... وكان في الأذكار والأدعية كلٌّ أميرَ نفسه، ولم تَثْبُت شاكلة الجماعة فيها، كما هو المعروف الآن. (فيض الباري شرح البخاري باب مُكثِ الإمَام فِي مُصَلاهُ بَعدَ السَّلام)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : پدې پوه شه چې له (فرض) لمنځونو څخه وروسته به (د نبي علیه السلام په زمانه کې) عموما سنت طریقه دا وه چې ....او د اذکارو او دعاؤ په ویلو کې به هرکس د خپل ځان امیر وو او په جماعت سره د هغې کول له سنتو څخه ندي ثابت لکه څنګه چې اوس رائج دي".

## د سهار او ماښام له لمانځه وروسته ځانګړي اذکار

یادونه: د سهار او ماښام له لمانځه څخه وروسته د د تیرو اذکارو سره لاندې اذکار هم ولوستل شي:

❁ اللَّهُمَّ أَجِرْنِيْ مِنَ النَّار (اوه ځلې)

ژباړه: الهي! ما د دوزخ له اور څخه وساتې.

فضیلت: مسلم بن حارث التمیمي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ هغه ته و فرمایل: کله چې د ماښام له لمانځه څخه فارغ شوې، اوه ځله دا دعا (اللهم أجرني...) ووایه، که دا دې وویله او پدې شپه کې وفات شوې، د دوزخ له اور څخه به خلاصون ومومې، او همدا راز که دغه دعا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار له لمانځه وروسته اوه ځله ووايي او په هماغه ورځ کې وفات شي نو د دوزخ له اور څخه به نجات حاصلوي. (ابو داود، احمد)

❁ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (لس ځلي)

ژباړه: بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه يو دی، شريک نه لري، هغه لره (د کايناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاينه ده، هغه ژوند ورکوي، او مرګ راولي، او هغه پر هر څه قادر دی.

فضيلت: له ابو ايوب ﷺ څخه روايت دی: چې رسول الله ﷺ و فرمايل: «څوک چې د سهار په وخت (له لمانځه وروسته) لس ځله دا ذکر (لا اله الا الله وحده لا شريک له....) ووايي، د هغه په عوض ورته لس نيکۍ ورکول کيږي، او لس ګناهونه يې بخښل کيږي، او لس درجې يې لوړيږي، او د څلورو غلامانو د آزادولو ثواب يې په نصيب کيږي، او دی تر ماښام پورې د شړل شوي شيطان څخه ساتل کيږي، او همدا راز که

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک د ماښام له لمانځه نه وروسته دا کلمات ووايي تر سهاره پورې همدا فضيلت ورته حاصليږي». (احمد)

❁ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا طَيِّبًا وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا. (ابن ماجه، احمد)

ژباړه: الهي! زه له تا نه د ګټور علم، او پاک رزق، او قبول شوي عمل سوال کوم.(د سهار لمانځه نه وروسته يوځل).

يادونه: که د هر لمانځه نه وروسته پورتني اذکار ادا کړای شي نوتقريبا له ۵۵ پنځه پنځوسو څخه زيات سنتونه کيږي او ددې سنتونو اداکول لاندې فايدې لري :

➢ د انسان لپاره په شپه او ورځ کې ۵۰۰ پنځه سوه صدقې ليکل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ فرمايي: «هره تسبيح صدقه ده،او هر تکبير صدقه ده، او هر تحميد صدقه ده، او هر تهليل صدقه ده». (مسلم).

➢ په شپه او ورځ کې انسان ته په جنت کې ۵۰۰ پنځه سوه ونې لږول کيږي.

رسول الله ﷺ يوه ورځ ابو هريره ﷺ وليدو چې ونه کښېنوي، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: «اې ابوهريره ﷺ آيا زه تاته داسې کښېنول ونه ښايم چې له دې نه بهتره دي»، ابوهريره ﷺ و فرمايل: ولې نه يارسول الله ﷺ ،نبي کريم ﷺ و فرمايل: ووايه سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، په دې هر ذکر تاته په جنت کې يوه ونه کښېنول کيږي.. (ابن ماجه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د هر لمانځه نه وروسته آیت الکرسي ویلو سره د انسان او جنت تر منځ صرف مرګ مانع ګرځي.

- څوک چې دا اذکار له هر لمانځه څخه وروسته وایي د هغه ګناهونه که دسمندر د ځګ برابر هم وي ورته ببښل کیږي. (مسلم)

⑬ د فرض لمانځه نه وروسته اذکار او دعاګانې د لمانځه پر ځای ویل.

⑭ د مسنون اذکارو شمیر د ښي لاس پر ګوتو کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم باب

## دسهار او ماښام اذكار

الله ﷻ فرمايي : ﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ﴾ (ق:۳۹)

ژباړه «او په پاکۍ سره ياد کړه په ثنا ويلو خپل رب لره، مخکې د لمر ختلو او مخکې له لمر پرېوتو څخه».

الله ﷻ فرمايي : ﴿وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ﴾ (الأعراف: ۲۰۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: «خپل رب له ځان سره په عاجزۍ او په پټه، اوپرته له دې چې آواز دې جګ شي، د سهار او ماښام پر وخت یاد کړه، او له غافلو (بندګانو) مه کیږه».

له انس بن مالکﷺ څخه روایت دی، چې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: «د هغه ډلې سره زما کښیناستل چې د سهار له لمانځه څخه تر لمر ختلو پورې د اللهﷻ ذکر کوي بهتر دی له دې چې د اسماعیلؑ له اولادې څخه څلور غلامان آزاد کړم». (أبو داود)

یادونه : د سهار اذکارو لپاره مستحب او افضل وخت د سهار له لمانځه وروسته تر لمرختنه دی خو له هغې وروسته یې ویل هم جائز دي او د ماښام اذکارو لپاره د مازدیګرله لمانځه وروسته تر لمر لویدو پورې دی خو له هغې وروسته یې ویل هم جائز دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اذکار

❁ أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

❁ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

① **آيت الكرسي**.(لومړي باب کې سره له ژباړې ذکر شوې).

**فضيلت: د رسول الله ﷺ څخه روايت دی: «څوک چې د سهار وخت کې آيت کرسي ووايي، تر ماښام پورې به د جنياتو (پيريانو) څخه محفوظ پاتې شي، او څوک يې چې ماښام ووايي نو تر سبا پورې به د پيريانو څخه په امن وي».** (حاکم)

② **آخريني درې سورتونه**(درې څلې) (لومړي باب کې سره له ژباړې ذکر شوي).

**فضيلت: رسول الله ﷺ فرمايي: «څوک چې دا سورتونه د سهار او ماښام په وخت (درې، درې څلې) ووايي نو دا ورته له هرڅه نه کافي او بس دي».** (ابو داود، ترمذي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: په لاندې اذکارو کې دسهار په وخت هغه الفاظ ویل کیږي چې لاندې خط ترې کش دی او د ماښام په وخت هغه چې د قوسونو په منځ کښې دي.

③ أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ [أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ] وَالْحَمْدُ لِلَّهِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِيْ هَذَا الْيَوْمِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهُ [خَيْرَ مَا فِيْ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا] وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيْ هَذَا الْيَوْمِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ [شَرِّ مَا فِيْ هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا] رَبِّ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوْءِ الْكِبَرِ، رَبِّ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِيْ النَّارِ، وَعَذَابٍ فِيْ الْقَبْرِ .(یو ځل). (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: صبا مو کړ او صبا کړ کائناتو [ماښام مو کړ، او ماښام کړ کائناتو] پداسې حال کې چې پادشاهي ټوله الله ﷻ لره ده نشته لائق د عبادت مګر همدی چې یو دی او هیڅ شریک نه لري. هغه لره پادشاهي ده. او هغه لره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر دی. ای زما پرورد ګاره! پدې ورځ کې [پدې شپه کې] چې څه خیر دی، او له دې وروسته چې څه خیر دی، زه له تا نه د هغه سوال کوم. او پدې ورځ کې [او پدې شپه کې] چې څه شر دی. او له هغه نه وروسته چې څه شر دی. له هغه ټُخه په تا سره پناه غواړم. ای زما پروردګاره! په تا سره له تنبلی. او د اوږده عمر د بدوالي نه پناه غواړم. ای زما پروردګاره! په تا سره د دوزخ او قبر له عذاب نه پناه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



④ اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا [أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا]، وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُوْرُ [وَإِلَيْكَ الْمَصِيْرُ] (يو ځل). (ابوداود، ترمذي)

**ژباړه: الهي! (ستا په حکم سره) مونږ سهار** [ماښام] **کړو. او (ستا په حکم سره) مونږ** [ماښام] **سهار کړو. او ستا (په حکم سره) ژوند کوو، او ستا (په حکم سره) مرو. او تا لره بيا در تګ (ژوندي کيدل) دي.**

⑤ اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّيْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِيْ وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنَ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوْءُ بِذَنْبِيْ، فَاغْفِرْلِيْ فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلاَّ أَنْتَ.(يو ځل).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! ته زما پروردګار یې، بې له تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته. تا زه پیدا کړی یم. او زه دې بنده یم. او زه د خپل توان سره ستا پر عهد او وعده ولاړ یم. زه پناه غواړم په تا سره د خپلو کړو له شر نه. زه ستا په هغه نعمت اقرار کوم چې ما ته د راکړی. او په خپله ګناه اقرار کوم، نو ما ته ببښنه وکړې، چې بې له تا نه څوک ګناه نشي بخښلای.

فضیلت: د شداد بن اوس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «سیدالاستغفار دا دعا ده (اَللّٰهُمَّ أَنتَ رَبِّي...) څوک چې دا دعا د ورځې په یقین سره ووایي. او په همدې ورځ کې وفات شي د جنتیانو څخه دی. همدا راز څوک چې دا په شپه کې په یقین سره ووایي، او د سهار څخه مخکې وفات شي جنت ته به ځي». (بخاري)

⑥ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَصْبَحْتُ [أَمْسَيْتُ] أُشْهِدُكَ، وَأُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ، وَمَلَائِكَتَكَ، وَجَمِيْعَ خَلْقِكَ، أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ وَأَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ. (څلور ځلې) (ابو داود)

ژباړه: الهي! ما سهار کړو (ماښام کړو) او داسې حال کې چې زه تا پدې شاهد ګڼم. او شاهد ګڼم پدې ستا دعرش پورته کوونکي. او ستا فرښتې، او ستا ټول مخلوقات. چې بیشکه ته الله ﷻ یې. یې له تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته. یو یې. شریک نه لرې. او په رښتیا سره محمد ﷺ ستا بنده او ستا پیغمبر دی.

فضیلت: له انس ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «څوک چې دا ذکر (اللهم إني أصبحت...) څلور ځلې په سهار او ماښام کې ووایي، الله پاک یې له دوزخ څخه ساتي».

⑥ اللَّهُمَّ مَا أَصْبَحَ [أَمْسَى] بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ. (ابو داود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! کوم نعمت چې ماته، او ستا بل کوم مخلوق ته د سهار [د ماښام] په وخت رسیدلی، نو هغه یواځې ستا له طرفه دی. تا لره شریک نشته. نو تالره ستاینه او شکر دی.

فضیلت: عبد الله بن غنام البیاض رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «څوک چې دا ذکر(اَللَّهُمَّ مَا أَصْبَحَ...) سبا ووایي نو د هغې ورځې شکر یې پر ځای کړ. او څوک یې چې ماښام ووایي. د همغې شپې شکر یې اداء کړ». (ابو داود، ابن حبان)

⑧ اللَّهُمَّ عَافِنِيْ فِيْ بَدَنِيْ، اَللَّهُمَّ عَافِنِيْ فِيْ سَمْعِيْ، اللَّهُمَّ عَافِنِيْ فِيْ بَصَرِيْ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ، اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوذُ بِكَ مِنَ عَذَابِ الْقَبْرِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ.(درې ځلې) (ابوداود)

ژباړه: الهي! ما ته په بدن کې روغتیا راکړې. الهي! ما ته په غوږونو کې روغتیا راکړې. الهي! ما ته په سترګو کې روغتیا راکړې. بې له تا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل د عبادت وړ معبود نشته. الهي! زه پناه غواړم په تا سره له کفر او فقر نه. الهي ! زه پناه غواړم په تا سره د قبر له عذاب نه. بې له تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته.

⑨ ﴿حَسْبِيَ اللّهُ لآ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾ (التوبة: ۱۲۹) (اووه ځلې)

ژباړه: بس دی ما ته هغه الله ﷻ چې بې له هغه بل د عبادت وړ معبود نشته. پر هغه مې توکل کړی. او همدی د لوی عرش څښتن دی.

فضیلت: هر څوک چې دا کلمات (حَسْبِيَ اللّهُ...) اوه ځلې ووایي. الله پاک ورته د دنیا او آخرت له پریشانیو نجات ورکوي. (ابو داود)

⑩ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللّٰهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي وَعَنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي. (ابو داود، ابن ماجه)

ژباړه: الهي! زه له تا نه په دنيا او آخرت کې د معافۍ او سلامتۍ سوال کوم. الهي! زه له تا نه په خپل دين او دنيا کې او په خپل اهل او مال کې د معافۍ او سلامتۍ سوال کوم. الهي! زما عيبونه پټ کړې. او ويره را نه لرې کړې. الهي! ما د مخې نه. او د شا نه. او د ښي خوا نه. او د چپې خوا نه. او د پورته خوا نه محفوظ کړې. او زه ستا په لويی سره له دې نه پناه غواړم چې د لاندې خوا نه ناڅاپه هلاک شم.

⑪ اللّٰهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلٰى نَفْسِي سُوءًا أَوْ أَجُرَّهُ إِلٰى مُسْلِمٍ.

(ترمذي، ابوداود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! ای په پټو اوښکاره عالمه! ای د آسمانونو او ځمکې پیدا کونکیه! ای د هرشي پالونکیه او واکمنه! زه شاهدي ورکوم چې بې لهٔ تانه بل د عبادت وړ (معبود) نشته، زه په تاسره د خپل نفس له شرنه ، او د شیطان له شرنه او شرک نه پناه غواړم. او له دې نه پناه غواړم چې زه بدي وکړم ، اویا (بل) مسلمان ته بدي ورسوم.

⑫ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِی لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَیْءٌ فِی الْأَرْضِ وَلَا فِی السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِیعُ الْعَلِیمُ. (درې ځلې)

ژباړه: د هغه الله جل جلاله په نوم. چې له نامه سره یې هیڅ شی په ځمکه او آسمان کې ضرر نه رسوي. او هغه ښه اوریدونکی. ښه پوه دی.

فضیلت: له عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: «هر بنده چې دا دعا (بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ.....) د سبا او ماښام پر وخت درې ځلې ووایي. هیڅ شی ورته ضرر نه شي رسولی».

(ترمذي، ابو داود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



⑬ رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا وَّرَسُولًا (درې ځلې).

ژباړه: زه د الله جل جلاله په څښتن توب (کار سازی) او د اسلام په دین، او د محمد ﷺ په نبوت (اوپیغمبری) راضي شوم.

فضیلت: څوک چې دا ذکر د سهار. او ماښام په وخت درې ځلې ووايي نو په الله حق دی چې هغه به د قیامت په ورځ خوشحالوي.

(ابوداود، ترمذي)

⑭ يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ، أَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، وَلَا تَكِلْنِي إِلَىٰ نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ. (حاكم)

ژباړه: ای د کامل ژوند څښتنه! ای د کايناتو تدبیرونکيه! ستا رحمت سره فریاد کوم او مدد غواړم. زما ټول کارونه برابر کړې، او زما نفس (او خواهشاتو) ته مې د سترګې د رپ په اندازه هم مه سپارې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فضیلت:** رسول الله ﷺ خپلې لور فاطمې رضي الله عنها ته فرمایلي وو چې دا دعا له ما څخه زده کړه سهار او ماښام یې وایه.

⑮ أَصْبَحْنا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ [أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الملْكُ لِلَّهِ] رَبِّ الْعَالَمِينَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذَا الْيَوْمِ فَتْحَهُ، وَنَصْرَهُ، وَنُورَهُ، وَبَرَكَتَهُ، وَهُدَاهُ، [هٰذِهِ اللَّيْلَةِ فَتْحَهَا، وَنَصْرَهَا، وَنُورَهَا، وَبَرَكَتَهَا، وَهُدَاهَا]، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ [مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا] (ابو داود)

**ژباړه:** مونږ سهار کړو [مونږ ماښام کړ] او کائناتو هم الله لره سهار کړ [ماښام کړ]، چې پروردګار د مخلوقاتو دی. الهي! زه در نه د دې ورځې [د دې شپې] د خیر، کامیابی، نصرت، رڼایی، برکت او هدایت سوال کوم، او په تا سره د هغې له شر نه، او د هغې نه وروسته شر نه پناه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



⑯ أَصْبَحْنَا [أَمْسَيْنَا] عَلَى فِطْرَةِ الإِسْلامِ وَعَلَى كَلِمَةِ الإِخْلاَصِ، وَعَلَى دِيْنِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ وَعَلَى مِلَّةِ أَبِيْنَا إِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفاً مُّسْلِماً وَّمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ (يو ځل).

(أحمد)

**ژباړه: مونږ سهار کړو** [مونږ ماښام کړو] **په فطرت د اسلام. او په کلمه د اخلاص، او په دین د محمد ﷺ او په طریقه زمونږ د پلار ابراهیم علیه السلام چې حق ته مایل وو. او له مشرکانو څخه نه وو.**

⑰ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ (سل ځلې).

**ژباړه: پاک دی الله جل جلاله، او هغه لره غوره ستاینه ده.**

**فضیلت: څوک چې د سهار او ماښام په وخت (دا ذکر) سل ځلې ووایي. هیڅوک به د قیامت په ورځ له ده غوره عمل ونه لري، مګر هغه څوک چې د ده په اندازه او یا له هغه نه زیات یې دا ذکر ویلی وي. او د هغه ټول ګناهونه به وبښل شي اګر که د سمندر د ځګ په اندازه (زیات) هم وي.**

(موطا، مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



⑱ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (د سهار په وخت سل ځلې).

**ژباړه: بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته. يو دی. شريک نه لري. ده لره پادشاهي ده، او ده لره پوره ستاينه ده، او هغه پر هر څه قادر دی.**

**فضيلت: څوک چې دا ذکر په ورځ کې سل ځلې ووايي، نو د لسو مريانو د آزادولو په اندازه (اجر) به ورکړل شي. او هغه لره به سل نيکۍ وليکل شي. او سل ګناهونه به ورته وبښل شي، او په هماغه ورځ به تر ماښام پورې له شيطان نه په امان وي. او هيڅوک به له ده نه غوره عمل ونه لري. مګر هغه څوک چې د ده په شان يې عمل کړی وي.** (بخاري، مسلم)

⑲ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ (درې ځلې د سهار په وخت). (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: پاک دی الله ﷻ، او هغه لره غوره ستاینه ده، د ده د مخلوقاتو د شمیر په اندازه، او د ده د رضا (په اندازه)، او د ده د عرش د وزن په(اندازه). او د ده د کلماتو د سیاهي (په اندازه).

⑳ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا طَيِّبًا وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا. (د سهار په وخت یوځل) (ابن ماجه)

ژباړه: الهي! زه له تا نه د ګټور علم، او پاک رزق، او قبول شوي عمل سوال کوم.

㉑ أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ. (په ورځ کې سل ځلې) (بخاري، مسلم)

ژباړه: له الله ﷻ نه بښنه غواړم، او هغه ته توبه وباسم.

㉒ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ.

(دماښام په وخت درې ځلې)

ژباړه: د الله ﷻ په بشپړ کلام سره د هغه د مخلوقاتو له شر نه پناه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فضيلت:** څوک چې دا ذکر د ماښام په وخت درې ځلې ووايي. په هغه
4 شپه کې به (د زهرناک خزنده) زهر ورته څه ضرر ونه رسوي.

(ترمذي، ابن ماجه، احمد)

**۲۳ په رسول الله ﷺ باندې درود.**

**يادونه:** د درود مختلف الفاظ له رسول الله ﷺ څخه ثابت شوي دي. خو ترټولو غوره ابراهيمي درود دی.

❁ **ابراهيمي درود:** اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

(لس ځلې). (مجمع الزوائد)

**ژباړه:** الهي! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر اهل وعيال درود وليږه. لکه څنګه چې دې پر ابراهيم عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام پر اهل وعيال درود

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیږلی دی، په رښتیا سره ته ستایلی شوی یې. د لویی خاوند یې. الهي! برکت نازل کړه پر محمدﷺ او د محمدﷺ پر اهل وعیال باندې، لکه څنګه چې دې برکت نازل کړی دی پر ابراهیمؑ، او د ابراهیمؑ پر اهل وعیال باندې. په رښتیا سره ته ستایل شوی، د لویی خاوند یې.

فضیلت: ابودرداء رضی الله عنه وایي: چې رسول اللهﷺ وفرمایل: هغه څوک چې د سهار او ماښام پر وخت لس ځله پر ما درود واستوي. د قیامت په ورځ یې زما شفاعت په نصیب کیږي. (الطبراني)

❁ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ. (لس ځلې)

ژباړه: الهي! پر محمدﷺ او د محمدﷺ پر اهل وعیال درود ولیږه. (نسائي)

❁ اللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ. (لس ځلې).

ژباړه: الهي! زموږ پر پیغمبر محمدﷺ درود او سلام ولیږه.

(مجمع الزوائد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲۴ د شرک نه د ځان ساتلو دعا.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَأَنَا أَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لاَ أَعْلَم. (احمد)

ژباړه: الهي! زه پناه غواړم په تاسره له دې چې شریک ونیسم له تا سره پداسې حال کې چې زه پوهیږم. او بښنه غواړم په کومو چې نه پوهیږم.

۲۵ اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ. (بو خل)

ژباړه: الهي! زه پناه غواړم په تا سره له غم او پریشانۍ نه. او پناه غواړم په تا سره له کمزورتیا (سستۍ) او لټۍ نه، او پناه غواړم په تا سره له بخیلۍ او بې زړه توب نه، او پناه غواړم په تا سره له قرض زیاتیدو او د سړو له غلبې موندلو نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضيلت: ابو سعيد خدري ﷺ فرمايي: چې يوه ورځ رسول الله ﷺ مسجد ته ننوت، د انصارو څخه يې يو سړی وليد چې ابو امامه نوميده، ورته يې وويل: «ای ابو امامه! د لمانځه له وخت نه پر ته دې ولې په جومات کې وينم ؟» ابو امامه ﷺ وويل: يا رسول الله ﷺ! خفګان، غمونو. او قرض مجبور کړی يم. رسول الله ﷺ وفرمايل: «آيا داسې کلمات درته ونه ښايم چې کله هغه ووايې. الله پاک به دې خفګان لرې کړي، او قرضونه به دې خلاص کړي؟» ابو امامه ﷺ وويل: ولې نه، يا رسول الله ﷺ! رسول الله ﷺ وفرمايل: «د سبا او مانښام پر وخت (اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ...) ووايه». ابو امامه ﷺ وايي: همداسې مې وکړل. الله ﷻ مې خفګان او غم لرې کړ او قرض مې هم خلاص شو. (ابو داود)

(۲۶) سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ.

(سل ځلې). (ترمذي)

ژباړه: پاک دی الله ﷻ، پوره ستاينه الله ﷻ لره ده. نشته لايق د عبادت مګر يواځې يو الله ﷻ دی. او الله ﷻ ډير لوی (ذات) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضيلت: عمرو بن شعيب له خپل پلار څخه. او هغه بيا د خپل پلار رضي الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «څوک چې د سهار او ماښام پر وخت سل ځلې د الله تسبيح (سُبْحَانَ اللَّهِ) ووايي، داسې ده لکه چې سل ځلې يې حج کړی وي. او څوک چې سبا او ماښام سل ځلې (الحمْدُ لِلَّهِ) ووايي، داسې ده لکه چې سل آسونه يې د الله جل جلاله په لاره کې تيار کړي وي. او يا يې داسې وفرمايل: سل ځلې د الله جل جلاله په لاره کې وجنګيږي. او څوک چې په سبا او ماښام کې سل ځلې تهليل (لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ) ووايي، داسې ده لکه چې سل غلامان يې د اسماعيل عليه السلام له اولادې څخه آزاد کړي وي. او څوک چې په سبا او ماښام کې سل ځله تکبير (اللَّهُ أَكبَرُ) ووايي. پدې ورځ به د عمل له لحاظه له ده څخه څوک زيات نه وي، مګر هغه څوک چې د ده په شان او يا يې له ده څخه زيات (دا ذکر) ويلی وي». (الترمذي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم باب

## د ورځني ژوند مهم اذکاراو سنتونه

ام المؤمنین عایشه رضي الله عنها فرمايي: رسول اللهﷺ په خپل ټولو وختونو کې د اللهﷻ ذکر کاوه. (مسلم)

## د خوب نه وړاندې سنتونه

### ۱- په وخت ویده کیدل

څوک چې غواړي خپل ژوند د رسول اللهﷺ په سنتو برابر کړي، کوښښ دې و کړي چې ناوخته ویده نشي، ترڅو د تهجد له ثواب، او د سهار له برکاتو بې برخې نشي. ځکه چې رسول اللهﷺ فرمايي: «اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لأُمَّتِيْ فِيْ بُكُوْرِهَا». (أبو داود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ای الله ﷻ! زما دامت په سبايي (سهار دوختنه) کې برکت کیږده.

## ۲- د اودس په حالت کې ویده کیدل

له ابن عمر څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چې د اوداسه په حالت کې ویده شي نو یوه ملائکه هم ورسره شپه تیره وي او هر کله چې را پاڅیږي نو هغه ملائکه دعا کوي چې ای الله د خپل دې بنده مغفرت د وکوه ځکه چې دی په اوداسه ویده شوی وو.

(مجمع الزوائد)

## ۳- د ویده کیدلو نه وړاندې خپله بستره څنډل

رسول الله ﷺ فرمايي: «ستاسې نه چې څوک خپلې بسترې ته لاړ شي نو هغه دې درې ځله وڅنډي ځکه هغه نه پوهیږي چې د ده له تړ نه وروسته هغې ته څه راغلي». (متفق علیه)

## ۴- په ښي اړخ ویده کیدل

رسول الله ﷺ فرمايي: «کله چې د خوب اراده وکړې نو اودس وکړه او بیا په ښي اړخ ویده شه» (بخاري، مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- ښي لاس تر ښي مخ (رخسار) لاندې كول

حديث شريف دى چې: كله به رسول اللهﷺ ويده كيدو نو ښي لاس به يې تر ښي رخسار لاندې كولو. (ابو داود)

## ۶- د ويده كيدونه وړاندې لاندې اذكار ويل

❁ آيت الكرسي (په لومړي باب كې ذكر شوې).

**فضيلت:** رسول اللهﷺ فرمايي: «څوک چې بسترې ته (د خوب لپاره) ورشي او دا (آيت الكرسي) ووايي. د الله جل جلاله له طرفه ساتندوى (محافظ) ورته مقرر شي. او تر سهاره شيطان ورته نږدې كيداى نشي». (البخاري)

❁ د سورة البقرة دوه آخري آيتونه:

﴿ءَامَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ ءَامَنَ بِاللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْمَصِيرُ ۞ لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنتَ مَوْلاَنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴾ (البقرة: ۲۸۵–۲۸۶)

ژباړه: «پيغمبر ﷺ په هغه څه چې ده ته له خپل پروردګار څخه را نازل شوي دي يقين او باور لري، او مؤمنان هم (په هغه يقين لري). او ټولو ايمان راوړ په الله ﷻ، او د هغه په ملايکو، او د هغه په کتابونو، او د هغه په پيغمبرانو. (پداسې حال کې چې ټول وايي) د الله ﷻ د پيغمبرانو د هيڅ يو په مينځ کې فرق نه کوو. او (همدارنګه پيغمبر او مؤمنان) وايي: مونږ (د الله ﷻ حکم) واوريده. او (د هغه) اطاعت مو وکړ. اى پروردګاره! ستا نه بښنه غواړو. او تا ته (د ټولو مخلوقاتو) بيا درتګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. الله ﷻ هیڅوک د قدرت او طاقت نه زیات نه مکلف کوي. کوم (نیک) کار چې یې کړی د هغه (ثواب) همده لره ده. او کوم (بد) کار چې یې کړی د هغه (عذاب) پر همده باندې دی. ای زمونږ پروردګاره! مونږه (په ګناه) مه نیسه کله چې (ستا حکم) هیر کړو. او یا په خطا سره (ګناه وکړو)، ای پروردګاره! او مه ایږده پر مونږ باندې دروند بار، لکه څنګه چې دې زمونږ نه مخکې کسانو باندې ایښې وو. ای پروردګاره! او مه ایږده پر مونږ باندې هغه بار چې مونږ یې هیڅ طاقت نه لرو. او زمونږ د (ګناهونو) نه تیر شه. او مونږ ته بښنه وکړه. او پر مونږ رحم وکړه. ته زمونږ مددګار یې. نو ته مونږ پر کافر قوم بریالي کړې».

**فضیلت:** له عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: «هرچا چې د شپې د سورة بقرې دوه وروستي آیتونه ولوستل نو ( اجر. ثواب له لحاظه او آفتونو څخه د خلاصون لپاره) ورته کافي ده». (البخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ❁ سورة الملک ﴿تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ...﴾

**فضيلت: رسول اللهﷺ فرمايي: «څوک چې هره شپه** (تبارك الذی...) **يعنې د الملک سورت تلاوت کړي، اللهﷻ ورته د قبر د عذاب څخه نجات ورکوي».** ( نسائي باب عمل اليوم والليلة)

**صحابه کرام فرمايي: مونږ به د رسول اللهﷺ په وخت کې سورت الملک ته د قبر له عذاب څخه منع کوونکی(المانعة) سورت ويلو.** (ترمذي)

## ❁ درې آخري سورتونه تلاوت کول (په لومړي باب کې ذکر شوي)

**خپل لاسونه د را ټول کړي او پورتني سورتونه د ولولي. او هغه د په لاسونو کې چف کړي. او تر کومه چې کولای شي په خپل بدن د لاسونه کش کړي (پدې ترتيب چې له سر او مخ څخه شروع وشي) دا د درې ځلې تکرار کړي، رسول اللهﷺ به هره شپه دا عمل کولو.** (البخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ سُبْحَانَ اللّٰهِ (۳۳ ځلې)، الْحَمْدُ لِلّٰهِ (۳۳ ځلې)، اللّٰهُ أَكْبَرُ (۳۳ ځلې).

فضیلت: څوک چې دا اذکار دخوب په وخت کې ووایي نو دا هغه لره د یو خدمتګار څخه هم غوره دي. (البخاري)

❁ بِاسْمِكَ اللّٰهُمَّ أَمُوتُ وَأَحْيَا. (البخاري)

ژباړه: الهي! ستا په نوم سره مرم. او ژوندی کیږم.

❁ اللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ. (درې ځلې) (ابو داود)

ژباړه: الهي! ستا له عذاب نه مې په هغه ورځ وساتې، په کومه چې خپل بندګان بیا را ژوندي کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: الهي! ستا په نوم سره مې خپله ډډه ولګوله. او ستا (په نوم سره يې) بيرته را پورته کوم. که دې زما روح قبض کړ نو رحم پرې وکړه، او که دې بيرته را وليږه نو ساتنه يې وکړه. په هغه څه سره چې د خپلو نيکو بندګانو (ساتنه کوې).

فايده: په حديث شريف کې راغلي دي چې کله بسترې ته راشې . نو بستره وڅنډه .ځکه ته نه پوهيږې چې ستا په بستره کې څه پراته دي بيا په ښي طرف څمله او پورته دعا ووايه.

❁ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهُ وَلَا مُؤْوِيَ. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ټوله ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چې مونږ ته يې خوراک او څښاک راکړی. او له شر نه يې ساتلي يو. او مونږ ته يې د اوسيدو ځای راکړی. ځومره ډير خلک داسې شته چې دوی لره دشر نه ساتونکی. او د اوسيدو ځای ورکونکی نشته.

اللَّهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِيْ إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِيْ إِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِيْ إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِيْ إِلَيْكَ، رَغْبَةً وَّرَهْبَةً إِلَيْكَ، لاَ مَلْجَأَ وَلاَ مَنْجَأَ مِنْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِيْ أَنْزَلْتَ، وَنَبِيِّكَ الَّذِيْ أَرْسَلْتَ.

ژباړه: الهي! ما خپل ځان تا ته تسليم کړ. او خپل کار مې تا ته و سپاره، او خپل مخ مې تاته و ګرځاوه. او خپله شا مې تا ته تکيه کړه. پداسې حال کې چې ستا له عذاب نه ډار لرم. او ستا رحمت ته اميد لرم. بېله تا نه بل هيڅ د نجات او پناه ځای نشته. ايمان مې راوړ ستا پر هغه کتاب چې تا نازل کړی. او ستا پر هغه پيغمبر ﷺ چې تا (مونږ ته) استولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فضيلت:** براء بن عازب رضي الله عنه فرمايي: چې رسول الله ﷺ راته وويل: «كله چې دې وغوښتل د خوب بسترې ته لاړ شې د لمانځه د اودس په شان اودس وكړه. او بيا په ښي خوا څمله او دا دعا ووايه: (اَللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ)». بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: «كه له دې وروسته مړ شوې، مسلمان مړ شوى يې». (البخاري)

## ۷- په خوب كې له يوې ړډې نه بلې ړډې ته د اوښتلو دعا

﴿ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ، رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ. (حاكم)

**ژباړه:** بې له يو او غالب الله جل جلاله نه بل د عبادت وړ معبود نشته. د آسمانونو او ځمكې او دهغو په مينځ كې د مخلوقاتو پروردګار دى، د زور او غلبې څښتن دى، ښښونكى دى.

## ۸- په خوب كې د ناآرامۍ او ويريدلو دعا

﴿ أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ابو داود)

ژباړه: زه پناه غواړم د الله ﷻ په بشپړ کلام سره. د هغه له غضب او عذاب نه، او د شیطانانو له وسوسونه، او له دې نه چې (شیطانان) ما ته راشي.

## ۹- هغه څه چې د بد خوب ليدو نه وروسته کول پکار دي:

- درې ځلې چپې خواته لاړې توکل.
- درې ځلې له شیطان نه. او د هغه له شر نه چې په خوب کې یې لیدلي دي په الله سره پناه غوښتل.
- خپل خوب چاته نه ویل.
- پر بل اړخ اوښتل.
- که وغواړي لمونځ د وکړي. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قيام الليل (تهجد) سنتونه

## ۱- د شپې لمانځه غوره عدد يولس يا ديارلس رکعته (د وترو سره) دی. 5

په حديث شريف کښې راځي چې: رسول الله ﷺ به دشپې يوولس رکعته لمونځ کولو. او په بل روايت کښې راځي چې: رسول الله ﷺ به دشپې ديارلس رکعته لمونځ کولو. (البخاري)

## ۲- د تهجدو لپاره تر ويښيدو وروسته مسواک استعمالول

## ۳- د لمونځ پيل له دوه خفيفو رکعتونو نه کول

تر څو انسان له دې وروسته اوږد لمونځ ته تيار شي، رسول الله ﷺ فرمايي: «ستاسې نه چې څوک د شپې لمانځه ته دريږي نو پيل دې له دوه خفيفو رکعتونونه وکړي». (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- د تهجد افتتاح له لاندې مسنونې دعا کول

۞ اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ. (مسلم)

ژباړه: ای الله ﷻ! د جبرائيل او میکائیل او د اسرافیل پروردګاره !د ځمکې او آسمانونو پیداکوونکیه! له ښکاره او پټو څخه خبره! ته د خپلو بندګانو ترمنځ په هغه څه کښې فیصله کونکی یې چې په څه کښې هغوی اختلاف کولو، ما ته ددې اختلاف نه په خپل امر سره د هغه څه په طرف هدایت وکړه چې حق وي، ته چې چاته وغواړې نېغې لارې ته یې هدایت کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د شپې لمونځ (تهجد) اوږد کول

د رسول کریمﷺ نه پوښتنه وشوه چې کوم لمونځ غوره دی؟ نو هغهﷺ و فرمایل: «په کوم کې چې قیام اوږد کړای شي». (مسلم)

د تهجد لمانځه ته د پاڅېدو لپاره مرستندویه اسباب:

- د شپې پروخت ویده کیدل.
- د غرمې په وخت ویده کیدل (قیلوله کول).
- له ګناهونونه ځان ساتل.
- د نفساني خواهشاتو مقابله کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خوب څخه له ويښيدو وروسته سنتونه

### ١- د خوب آثار له خپلو سترګو او مخ څخه د لاسونو په واسطه لرې کول

امام نووي او امام ابن حجر رحمهما الله فرمايي: چې دا کار مستحب دی ځکه چې په حديث شريف کښې راځي چې: رسول اللهﷺ له خوب څخه را ويښ شو، او کښيناستو وروسته يې له خپل مخ څخه خوب د لاسونو په ذريعه مسحه کولو. (مسلم)

### ٢- له را ويښيدو وروسته لاندې اذکار ويل

❁ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِيْ أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُوْرُ. (البخاري)

ژباړه: ټوله ستاينه اللهﷻ لره ده، هغه چې مونږ يې پس له مرګه ژوندي کړي يو، او همده ته بيا ژوندي کيدل او ورتګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ عَافَانِيْ فِيْ جَسَدِیْ، وَرَدَّ عَلَيَّ رُوحِی، وَأَذِنَ لِي بِذِكْرِهِ. (ترمذي)

ژباړه: پوره ثنا او ستاینه هغه الله لره ده چې ما ته یې په بدن کې روغتیا راکړې، او ما ته یې زما روح بیا راکړ، او ما ته یې د خپل ذکر اجازه (فرصت) راکړه.

## ۳- درې ځله لاسونه وینځل

رسول الله ﷺ فرمایي: «له تاسې چې هر څوک له خوب څخه ویښ شي نو خپل لاس دې ترهغې د اوبو په لوښي کښې نه غوټه کوي تر څو چې هغه درې ځله ووینځي». (متفق علیه)

## ۴- په پزه اوبه تیرول

رسول الله ﷺ فرمایي: «کله چې یو له تاسې څخه له خوبه ویښ شي، نو په پزه د درې ځله اوبه تېرې کړي، ځکه چې شیطان د هغه په پزه کښې شپه تېروي». (متفق علیه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- مسواک استعمالول

په حديث کښې راځي: رسول الله ﷺ به چې کله هم له خوبه ويښ شو نو خپله خوله به يې په مسواک سره وينځله. (متفق عليه)

## مسواک

رسول الله ﷺ فرمايي: که زما په امت سخته نه تماميدای نو د هر لمانځه پر مهال به مې د مسواک وهلو امر ورته کړی وای. (متفق عليه)

په شپه او ورځ کښې يو مسلمان څو څو ځله مسواک استعمالوي مثلا:

د خوب څخه د را ويښيدو پر مهال، پنځه ځله د فرض لمانځه لپاره، د چاشت لمانځه لپاره، د تهجد لمانځه لپاره، کور ته د ننوتلو پر مهال.

عايشه رضي الله عنها فرمايي: نبي کريم ﷺ به چې کله کور ته ننوتلو نو مسواک به يې استعمالولو. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قرآنکریم د تلاوت نه وړاندې،د خولې د بد مزګی په وخت. رسول الله ﷺ فرمایي: «مسواک د خولې . پاکی او د الله ﷻ د رضا سبب دی». (احمد)

**د مسواک په استعمال سره دوه فایدې ترلاسه کیږي:**

- د الله ﷻ رضا.
- د خولې نظافت او پاکوالی.

**یادونه: مسواک لاندې مفید مواد لري:**

- د جراثیمو ضد مواد.
- د پاکوالي مواد.
- د غاښونو د پاکولو او سپینوالي مواد.
- د خولې لپاره د خوش بويي او تازه والي مواد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پایزار اغوستلو سنت طریقه

رسول الله ﷺ فرمایي: «کله چې له تاسو څخه څوک پایزار پر پښو کوي نو له ښۍ پښې دې شروع کوي، او کله چې پایزار اوباسي نو له چپې پښې نه دې شروع کوي، یا خو د دواړه پر پښو کوي، او یا دې دواړه لرې کوي (یعنې په یوه څپلۍ کښې دې نه ګرځي)». (مسلم)

پورتنی سنت په شپه او ورځ کې ډیر ځله تکراریږي:

- حمام ته د ننوتلو او راوتلو پر مهال.
- جومات ته د تلو راتلو پر مهال.
- کور نه د وتلو او ننوتلو پر مهال.

لنډه دا چې په شپه او ورځ کښې انسان ډیر ځله د پایزار پښو کولو او ایستلو ته اړ کیږي که هر ځل دا کار په سنت طریقه وکړي او د سنت د اتباع نیت پکښې ولري نو خورا عظیم اجر او ثواب تر لاسه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تشناب ته د ننوتلو او بیر ته وتلو سنتونه

**۱- د ننوتلو په وخت کښې چپه پښه وړاندې کول**

**۲- د ننوتلو پر مهال دا دعا ویل:**

❁ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ. (متفق علیه)

ژباړه: الهي! زه په تا سره له چټلې او چټلو (ناولو) نه پناه غواړم.

الخبث والخبائث: د جني شیطانانو نارینه او ښځینه ته وایي د دې ذکر په ویلو سره انسان د هغوی له شر څخه خوندي پاتې کیږي ځکه تشنابونه د جني شیطانانو استوګنځایونه دي.

**۳- د وتلو په وخت کښې ښې پښه وړاندې کول**

**۴- د وتلو پر مهال دا دعا ویل:** «غُفْرَانَكَ» زه ستا نه بښنه غواړم. (ترمذي، ابوداود، ابن ماجه)

یادونه: په دې ډول انسان حمام ته په شپه او ورځ کښې ډېر ځله ځي راځي او په وتو ننوتو کښې دوه سنتونه د ننوتلو او دوه هم د وتلو پر مهال پرځای کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اوداسه سنتونه

### ۱- اودس په کور کې کول

رسول الله ﷺ فرمايي: «کوم کس چې په خپل کور کې اودس وکړي، او بيا د فرض لمونځ لپاره د جومات پخوا روان شي، نو يو قدم سره د هغه يوه ګناه معاف کيږي، او په بل ورته يوه درجه لوړيږي». (مسلم)

### ۲- د اوداسه په پيل کښې بسم الله ويل (ابو داود)

### ۳- په چپ لاس پزه پاکول

### ۴- په خوله او پزه اوبه تېرولو کښې مبالغه کول

يعنې په ټوله خوله اوبه تېرول تردې چې حلق ته ورسيږي، او په ټوله پزه اوبه تيرول تردې چې د پزې تر آخره ورسيږي.

نبي کريم ﷺ فرمايي: «په پزه اوبه تيرولو کې مبالغه وکړئ، مګر دا چې تاسې روژه په خوله وی». (ترمذي، نسائي، ابن ماجه)

يادونه: روژه لرونکی انسان به دخولې او پزې په وينځلو کښې له مبالغې نه ډډه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د خولې وينځلو پر مهال مسواک استعمالول

رسول الله ﷺ فرمايي: که زما په امت سخته نه تماميدی نوما به دوی ته امر کړی وو چې دهر اوداسه پر مهال مسواک استعمال کړي.

(احمد، النسائي)

## ۶- د ګنې ږيرې خلالول

يعنې د مينځلو پر مهال په ږيره کښې د لاس ګوتې تيرول، "رسول الله ﷺ به د اوداسه پر مهال خپله ږيره خلالوله". (ترمذي)

## ۷- د سر مسحه په دې ډول کول چې له تندي نه يې شروع کړي

او تر څټ پورې لاس په سر کش کړي، او بيا له څټ نه تر تندي بير ته په سر لاس کش کړي. (متفق عليه)

يادونه: که مسحه له پورته ډول نه پرته په بله طريقه وشي، فرض خو به ادا شي، خو په سنت به عمل ونشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د خولې وينځلو پر مهال مسواک استعمالول

رسول الله ﷺ فرمايي: که زما په امت سخته نه تماميدی نوما به دوی ته امر کړی وو چې دهر اوداسه پر مهال مسواک استعمال کړي. (احمد، النسائي)

## ۶- د ګڼې ږيرې خلالول

يعنې د مينځلو پر مهال په ږيره کښې د لاس ګوتې تيرول، "رسول الله ﷺ به د اوداسه پر مهال خپله ږيره خلالوله". (ترمذي)

## ۷- د سر مسحه په دې ډول کول چې له تندي نه يې شروع کړي او تر څټ پورې لاس په سر کش کړي، او بيا له څټ نه تر تندي بير ته په سر لاس کش کړي. (متفق عليه)

يادونه: که مسحه له پور ته ډول نه پر ته په بله طريقه وشي، فرض خو به ادا شي، خو په سنت به عمل ونشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸- په اوداسه کې وينځل کېدونکو اعضاوو باندې د وينځلو پر مهال او يا له هغه وروسته لاس راتېرول

## ۹- د اوداسه لپاره کمې اوبه استعمالول

" رسول الله ﷺ به په يوه مُد اوبو اودس کولو." (متفق عليه)

يادونه: يو مُد تقريباً نيم ليتر کيږي.

## ۱۰- په اوداسه کې اسباغ کول

يعني اودس په داسې ډول کول چې هر اندام په پوره توګه ووينځل شي.

## ۱۱- د اوداسه نه وروسته مسنون اذکار ويل

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «څوک چې له اوداسه وروسته لاندې دعا ووايي، د جنت آته دروازې ورته خلاصيږي، له هرې يوې چې خوښه يې وي داخل دې شي». (ابو داود)

أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. (ابو داود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: شاهدي ورکوم چې بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه یو دی، شریک نه لري، او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او پیغمبر دی.

❁ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ. (نسائي عمل اليوم والليله)

ژباړه: الهي! تا په پاکۍ سره یادوم، او ستا ستاینه کوم، زه شاهدي ورکوم چې بې له تا نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته، له تا نه بښنه غواړم، او تا ته توبه اوباسم.

❁ اللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ. (ترمذي)

ژباړه: الهي! له توبه ویستونکو او پاکو بندګانو څخه مې وګرځوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲- د اوداسه نه وروسته دوه ركعته نفل (تحية الوضوء) لمونځ كول

رسول الله ﷺ فرمايلي: «چاچې زما د اوداسه په څېر اودس وكړو، اوبيايې دوه ركعته لمونځ وكړو، او په هغې كې يې له ځان سره خبرې ونكړې نو د هغه تېر ګناهونه وبښل شول». (متفق عليه)

فضيلت: اودس په دې ډول كول چې پورتني سنتونه پكې تطبيق شي انسان له ګناهونو څخه پاكوي.

رسول الله ﷺ فرمايي: «څوك چې په ښه توګه اودس وكړي نو د هغه له بدن څخه ګناهونه، ان تردې چې دهغه دنوكونو نه لاندې ګناهونه هم وځي». (مسلم)

په بل روايت كې رسول الله ﷺ فرمايي: «ستاسې نه كه يوكس په ښه توګه اودس وكړي، بيا دوه ركعته لمونځ په دې ډول ادا كړي، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه حضور يې پکې برابروي، هغه ته جنت واجب شو او مغفرت يې وشو». (مسلم)

## د لباس سنتونه

د لباس اغوستلو او ويستلو کار هم په شپه او ورځ کښې ډېر ځله تکراريږي، د جامو اغوستلو او ويستلو سنتونه په لاندې ډول دي:

**۱- دجامو ويستلو او اغوستلو په وخت بسم الله ويل**

**۲- د اغوستلو په وخت لاندې دعا ويل**

رسول اللهﷺ چې به کله جامې يا څادر او يا هم پګړۍ اغوسته نو دا دعا به يې ويله:

❁ **اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا هُوَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ.** (ابوداود، ترمذي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! زه د دې (جامې) خير، او د څه لپاره چې جوړه شوې د هغې خير غواړم، او زه پناه غواړم په تا سره د دې له شر نه، او د هغه څه له شر نه چې ورته جوړه شويده.

❁ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِيْ كَسَانِيْ هٰذَا (الثَّوْبَ) وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّيْ وَلَا قُوَّةٍ.

ژباړه: پوره ثنا او ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چې ما ته يې دا جامه را واغوستله، او بې له کوم طاقت او قوت (خرچ کولو) نه يې ما ته را کړه.

(ابو داود، ترمذي، ابن ماجه)

فضيلت: په حديث کې راغلي دي چې کوم کس د جامو اغوستلو نه وروسته دا دعا ووايي، نو مخکني ګناهونه به يې وبښل شي.

(ابو داود، المستدرک، مسند ابي يعلى)

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳- د نوو جامو اغوستلو دعا

❁ (بِسْمِ اللهِ) اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ، أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ، أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ. (ابوداود، والترمذي)

ژباړه: بسم الله یاالهي! تا لره پوره ستاینه ده، تا ما ته (دا جامه) را واغوستله، زه د هغې د خیر، او د څه لپاره چې جوړه شویده د هغه د خیر سوال درنه کوم، او پناه غواړم په تا سره د هغې له شر نه او د هغه څه له شر نه دکوم لپاره چې هغه جوړه شویده.

### ۴- چا چې نوې جامې واغوستلې هغه ته دعا

❁ تُبْلِي وَيُخْلِفُ اللهُ تَعَالَى.

ژباړه: دا جامه (په ځان) زړه کړې، او الله دې د هغه په ځای نورې جامې در کړي. (ابوداود)

❁ إِلْبَسْ جَدِيداً وَعِشْ حَمِيداً وَمُتْ شَهِيداً. (ابن ماجه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: نوې جامې واغوندې، او ستایلی و اوسیږې او د شهادت په مرګ مړ شې.

## ۵- د جامو اغوستلو په وخت له ښي اړخ او ویستلو په وخت له چپ اړخ څخه شروع کول

عائشه رضي الله عنها فرمايي : رسول اللهﷺ به په هرڅه کې شروع له ښي اړخ څخه خوښوله. (ابن حبان)

## ۶- د تکبر له جامې او د ښنګرو نه د هغې له ښکته کولو ډډه کول

ابو سعید الخدريؓ فرمايي: ماله رسول اللهﷺ څخه اوریدلي چې فرمایل یې: «د مؤمن پاجامه دهغه د پنډیو تر نیمایي پورې وي، او د پنډیو او ښنګرو ترمنځ هم ګناه نه لري، که له دې(ښنګرو) لاندې شي په جهنم کې به وي، که له دې(ښنګرو) لاندې شي په جهنم کې به وي، الله ﷻ د قیامت په ورځ هغه شخص ته نظر نه کوي چاچې خپله پاجامه د تکبر له امله (ښکته) ځنبولې وي». (الموطأ)

ابوذرؓ له نبي کریم ﷺ نه روایت کوي چې فرمایل یې: درې کسان داسې دي چې نه به الله ﷻ په ورځ د قیامت له دوی سره خبرې وکړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به دوی (له ګناه څخه) پاک کړي او د دوی لپاره به دردناک عذاب وي. يو هغه کس چې د کبر له امله يې جامې وځښولې. (النسائي)

ابن عمر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايي: چاچې له پاجامې، قميص او پګړۍ څخه څه شی د کبر له امله و ځښول الله به ورته د قيامت په ورځ نظر نه کوي. (النسائي)

يادونه: په پورته احاديثو کې دوه مختلفې سزا ګانې ذکر شوې، چاچې له کبر پرته جامې له ښنګرو ښکته وځښولې نو د هغه ښنګري او قدمونه به د جهنم په اور کې وي، او چاچې دا کار د کبر له امله وکولو نو دهغه لپاره به په قيامت کې پورته درې سزا ګانې وي،دوه مختلفې سزاګانې يوه عمل ته ذکر کول پدې دلالت کوي چې دا عمل دوه صورته لري، لهذا له ښنګرو ښکته د جامو ځښولو ممانعت په دواړو صورتونو کې ثابت دی البته د هر صورت سزا ځانګړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷- د کفارو له جامو څخه ډډه کول

عبدالله بن عمرو بن العاص‌ فرمايي چې رسول الله ﷺ زه په عصفر سره رنګ شوو جامو کې ولیدم نو راته یې وفرمایل: «دا د کفارو جامه ده دا مه اغونده». (مسلم)

## د آذان سنتونه

د آذان پنځه سنتونه دي چې امام ابن قیم رحمه الله په زادالمعاد کښې ذکر کړي او په لاندې ډول دي:

### ۱- د آذان ځواب ورکول

د آذان اوریدونکی به هماغه الفاظ تکراروي چې مؤذن یې وايي پرته له حي علی الصلاة او حي علی الفلاح د دې په ځواب کښې به لا حول ولا قوة الا بالله وايي.

ژباړه: نشته (د ګناه څخه د لرې کیدو) توان او (نه د اطاعت او عبادت کولو) قوت، مګر د الله ﷻ په توفیق سره. (متفق علیه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضيلت: هر څوک چې د آذان ځواب ورکړي د هغه لپاره جنت واجب کيږي. (مسلم)

## ۲- دآذان نه وروسته دا ذکر ویل:

❁ وَأَنَا أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّه وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللَّه، رَضِيتُ بِاللهِ رَبَّاً، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولاً، وَبِالإِسْلاَمِ دِيناً. (مسلم)

ژباړه: او زه هم شاهدي ورکوم چې بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ معبود نشته، او محمد ﷺ د الله پیغمبر دی، د الله ﷻ په څښتن والی، او د محمد په پیغمبری، او د اسلام په دين راضي يم.

فضيلت: په حديث کې راځي چا چې د آذان اوريدلو نه وروسته دا دعا وويله ، نو الله ﷻ به يې ګناهونه معاف کړي. (مسند أحمد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- د آذان نه وروسته درود شريف ويل:

د رسول اللهﷺ ارشاد دی: کله چې تاسې د مؤذن آواز اورئ، نو تاسې هم داسې وايئ لکه هغه يې چې وايي، او بيا پر ما درود ووايئ، او چا چې پر ما يو ځل درود وويلو نو الله تعالی به پر هغه لس ځلې درود ووايي.(مسلم)

يادونه: تر ټولونه غوره درود، ابراهيمي درود دی کوم چې په لمانځه کښې ويل کيږي، خو له دې نه علاوه په نورو ثابت شوو الفاظو اگر که مختصر وي ويل يې جواز لري.

## ۴- له درود نه وروسته دا دعا ويل:

۞ اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلاَةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّداً الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَاماً مَحْمُوداً الَّذِيْ وَعَدْتَهُ إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ الْمِيعَادَ. (بخاري، بيهقي)

ژباړه: الهي! ای د دې مکملې بلنې، او د کيدونکي لمونځ پروردګاره! ته محمدﷺ ته په جنت کې خاصه درجه او خاص فضيلت ور کړې، او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستایل شوي مقام ته یې ورسوې کوم چې تا ورسره وعده کړېده، (بې له شکه چې ته د خپلې وعدې مخالفت نه کوې).

**فضیلت:** د دې دعا ویل دا فایده لري چې د دې ویونکي ته د رسول الله ﷺ شفاعت واجب کیږي. (بخاري، بیهقي)

## ۵- د آذان او ذکر شوو دعاګانو نه وروسته خپل ځان ته دعا کول

په دې وخت کښې دعا قبلیږي، رسول الله ﷺ فرمايي: مؤذن چې څه وايي هغه ته هم ووایه! او بیا د الله ﷻ نه وغواړه نو هغه به یې درکوي». (ابوداود، ابن حبان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کور ته د ورتلو او ننوتلو سنتونه

## ۱- له کور نه د وتلو دعا

❁ بِسْمِ اللَّهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ.

**ژباړه:** د الله ﷻ په نامه سره (له کوره وځم) په الله ﷻ باندې توکل او تکیه کوم، او نشته هیڅ قوت او طاقت (ګناه نه د ساتلو او د نیکیو د کولو) مګر د اوچت او باعظمت الله په توفیق سره.

**فضیلت:** کله چې (انسان) دا ووايي. نو پدې وخت کې ورته (د ملائکو لخوا) ویل کیږي: لارښوونه درته وشوه. بسنه (کفایت) درته وشوه او وساتل شوې، او شیطان به ترې لرې شي. (ابو داود، والترمذي)

❁ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ، أَوْ أُضَلَّ، أَوْ أَزِلَّ، أَوْ أُزَلَّ، أَوْ أَظْلِمَ، أَوْ أُظْلَمَ، أَوْ أَجْهَلَ، أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ.

(ترمذي، ابن ماجه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! زه په تا سره پناه غواړم له دې چې زه بې لارې شم، یا مې بل ځوک بې لارې کړي، یا وښویږم، یا وښویولی شم، یا ظلم وکړم، یا ظلم را سره وشي، یا (چا ته) ضرر او نقصان ورسوم، یا راته (له بل چا نه) ضرر ورسولی شي.

په دې ډول انسان په شپه او ورځ کښې ډېر ځله له کور څخه وځي، کله د لمانځه لپاره جومات ته ځي، او کله هم د ورځني ضرورتونو لپاره بهر ته وځي. که هر ځل د وتلو پر مهال دا سنت عملي کړي نو ډېر لوی اجر به هره ورځ ترلاسه کړي.

یادونه: د وتلو پر مهال د پورتنیو سنتونو په ادا کولو سره لاندې فوائد ترلاسه کیږي:

- انسان ته د دنیا او آخرت په کارونو کې د الله ﷻ له خوا کفایت ترلاسه کیږي.
- انسان د هر شر څخه ژغورل کیږي که د انسان له خوا وي او که د جنیاتو (پیریانو).

(c) ketabton.com: The Digital Library



➢ انسان هدایت ترلاسه کوي، او د دنیا او آخرت په کارونو کښې له ګمراهۍ څخه ساتل کیږي.

## ۲- کور ته د ننوتلو پر مهال بسم الله ویل

امام نووي رحمه الله فرمایي: کورته د ننوتلو پر مهال بسم الله ویل، د الله ﷻ ذکر کول، او د کور خلکو ته سلام ورکول مستحب دي.

## ۳- کور ته د ننوتلو دعا ویل

❁ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا. (ابوداود)

ژباړه: الهي! زه له تا نه کور ته د ننوتلو او وتلو د خير او بهترۍ سوال کوم، د الله ﷻ په نامه سره ننوتلم، او د الله ﷻ په نامه سره ووتلم او په الله ﷻ باندې چې پروردګار مو دی توکل کړی.

## ۴- مسواک استعمالول

نبي کریم ﷺ به چې کله کور ته ننوتلو نو مسواک به يې وهلو. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د کور خلکو ته سلام ورکول

## ۶- کور ته د ننوتلو په وخت ذکر کول

نبي کریمﷺ فرمايي: «کله چې يو کس کور ته ننوځي، او د الله ﷻ ذکر وکړي، او بيا د ډوډۍ په وخت کې هم ذکر وکړي، نو شيطان خپلو ملګرو ته وايي، چې په دې ځای کښې ستاسې لپاره نه د شپې ځای شته او نه هم د خوراک». (مسلم)

## د مسجد اړوند سنتونه

### ۱- مسجد ته پر وخت تلل

رسول الله ﷺ فرمایي: «که خلکو ته معلومه شي چې په آذان او اول صف کښې څومره اجر او ثواب دی. او بیا یې د قرعه اندازۍ پرته په بل څه پیدا نه کړل. نو قرعه اندازي به وکړي. او که خلکو ته د امعلومه شي چې د لمونځ لپاره پر وخت تللو کښې څومره ثواب دی نو دوی به له یو بل نه د مخکښې کیدو هڅه وکړي. او که دوی ته دا معلومه شي چې د ماښام او سهار لمونځ کښې څومره ثواب دی. نو دوی به په هرحال کښې لمونځونو ته راشي اگر که په ګېډو هم وي».

### ۲- مسجد ته د تلو په وخت دعا

۞ اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُوراً وَفِي لِسَانِي نُوراً وَاجْعَلْ لِي فِي سَمْعِي نُوراً وَاجْعَلْ فِي بَصَرِي نُوراً وَ اجْعَلْ مِنْ خَلْفِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نُوراً وَمِن أَمَامِي نُوراً و اجعَل مِن فَوقِي نُوراً وَمِن تَحتِي نُوراً اللَّهُمَّ أَعطِنِي نُوراً. (مسلم)

ژباړه: ای الله! زما په زړه کښې نور پیدا کړې، او زما په ژبه کښې نور پیدا کړې، او زما په غوږونو کښې نور پیدا کړې، او زما په سترګو کښې نور پیداکړې، او زما شاته نور پیدا کړې، او زما مخې ته نور کړې، او زما د پاسه نور کړې، او زمالاندې نور کړې، او ماته نور راکړې.

## ۳- په آرامه اووقار سره تلل

رسول الله ﷺ فرمایي: «کله چې اقامت واورئ نو لمانځه ته داسې ځئ چې په تاسې سکون او وقار وي». (متفق علیه)

یادونه: سکون نه مراد حرکاتو کښې کمی راوستل، یعني لاندې کتل، آواز ټیټول او یو بل خوانه کتل.

## ۴- مسجدته پیاده تلل

فقهاؤ لیکلي چې مسجد ته د تلو په وخت واړه واړه قدمونه اخیستل پکار دي، او چټکتیا نده پکار، تر څو ډېرې نیکی ترلاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې دلیل د رسول الله ﷺ دا فرمان دی: «آیا زه تاسې ته داسې کار په ګوته نه کړم کوم چې ستاسې ګناهونه له منځه وړي، او ستاسې درجې پورته کوي»، صحابه کرامو عرض وکړو چې: ولې نه ای د الله رسوله، نو رسول الله ﷺ څو شیان ذکر کړل، چې د هغې نه یو هم دا وو چې: «د مسجدونو خواته زیات قدمونه پورته کړئ». (مسلم)

## ۵- مسجد ته د ننوتلو په وخت لومړی ښی پښه دننه کول

انس رضي الله عنه فرمايي: له سنتو څخه يو هم داده چې کله تاسې مسجد ته ننوځی نو لومړی ښی پښه د ننه کړئ، او چې کله بهر وځی نو لومړی چپه (کینه) پښه بهر کړئ. (حاکم)

## ۶- مسجد ته د ننوتلو دعا ویل

❁ أَعُوذُ بِاللهِ العَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الكَرِيمِ، وَسُلْطَانِهِ القَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ.

ژباړه: په لوی الله جل جلاله سره، او د هغه په عزتمند مخ، او ازلي او همیشنی پاچاهی سره، له رټل شوي شیطان نه پناه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللهِ، اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، اللَّهُمَّ افْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ. (مسلم، ابن ماجه)

ژباړه: د الله ﷻ په نامه سره (داخليږم)، الهي! پر محمد ﷺ درود وليږه، الهي! دخپل رحمت دروازې دې راته خلاصې کړه.

## ۷- لومړي صف ته وړاندې کيدل

رسول الله ﷺ فرمايي: «که خلکو ته معلومه شي چې په آذان او اول صف کښې څومره اجر او ثواب دی، او بيايې د قرعه اندازی پرته په بل شي پيدا نه کړي نو قرعه اندازي به وکړي». (بخاري، مسلم)

## ۸- تحية المسجد لمونځ کول.

د رسول الله ﷺ ارشاد دی: «تاسې نه چې څوک کله مسجد ته ننوځي نو تر هغه دې نه کښيني ترڅو چې دوه رکعته لمونځ ادانکړي».

(متفق عليه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹- مسجد ته د وتلو پر مهال لومړی چپه پښه بهر ایښودل**

**۱۰- مسجد نه د وتلو دعا ویل**

❁ بِسْمِ اللهِ اَللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ اَللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ. (مسلم، ابن ماجه)

**ژباړه: د الله ﷻ په نامه سره، الهي! پر محمد ﷺ درود ولیږه، الهي! له تا نه ستا د فضل سوال کوم.**

❁ اللَّهُمَّ اعْصِمْنِيْ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ. (ابن ماجه)

**ژباړه: الهي! له رټل شوي شیطان نه مې وساتې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په لمانځه کې مسنون اذکار او دعاګانې

یادونه: په نفل لمانځه کې لاندې اذکار او دعاګانې د خپل وس مطابق ویل د ټولو فقهاؤ په نزد مستحب کار دی خو په جماعت لمانځه کې د دې اذکارو ویلو پر مهال د مقتدیانو خیال ساتل ضرور دي ځکه په هغوی کې مریض او ضعیف کسان هم وي.

د حنفي مذهب مشهور او محقق فقیه ابن عابدین شامي رحمه الله وروسته له هغې چې د رکوع، سجدې، قومې او جلسې اذکار یې له روایتونو سره ذکر کړي لیکي "صاحب الحلیة فرمايي: په فرض انفرادي لمانځه او یا هم په هغه جماعت کې چې پر مقتدیانو سخته او درنه نه تماميږي پدې اذکارو التزام کول ضرر نه لري اګر که پدې زمونږ مشایخو صراحت ندی کړی. خو د شریعت قواعد له دې منع نه راولي.

د جلسې د ذکر په هکله فرمايي" دې ذکر ته سنت نه ویل دا معنا نه لري چې ویل یې له سره جواز نه لري بلکه ویل یې مستحب کار دی ترڅو له اختلاف نه پرې ووزو. (حاشیة ابن عابدين : ۱/۵۰۶)

په هند کې د حنفي مذهب مشهور محدث او فقیه شیخ ابوالحسنات عبدالحي اللکنوي رحمه الله فرمايي " هغو فقهاؤ چې په جماعت لمانځه کې یې (اذکار او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعاګانې) ویل منعه کړي د همغې وجه یې دا ښودلې چې پدې سره مقتدیان متنفره (زړه توري) کیږي نو معنایې داده چې که چیرې داسې نه کیږي نو جوازلري او ابن امیر الحاج هم د منیة المصلي په شرح کې پدې صراحت کړی. (النافع الکبیر لمن یطالع الجامع الصغیر ۱۹/۱)

د اعلاء السنن مؤلف د دیوبند مدرسې ستر محدث او فقیه مولانا ظفر عثماني التهانوي رحمه الله په خپل کتاب کې د وجوب الإعتدال و الطمأنینة في الرکوع و السجود و سنیة الذکر فیهما تر باب لاندې د رکوع، سجدې او قومې اذکار او دعاګانې له روایتونو سره ذکر کړې او بیا فرمایي"دا احادیث دد ې باب په وروستنۍ برخه"سنیة الذکر" (یعنې د ذکر په سنتیت) دلالت کوي".

له دې وروسته یې د شامي رحمه الله پورته ذکر شوی قول هم رانقل کړی او بیا یې لیکلي : " زه وایم وګورئ څومره د ا حادیثو پیروي کوي !همدادي د احنافو فقهاء چې همیشه د سنت د اتباع په لټه کې دي. (إعلاء السنن ۱۵/۱۸/۳)

د جلسې د ذکر له احادیثو بیانولو وروسته لیکي :«دا احادیث د دوو سجدو ترمنځ ددې ذکر په استحباب دلالت کوي»

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم فقهاء چې فرمايي چې پدې مقام کې سنت ذکر نشته د هغې په هکله فرمايي: " له دې خبرې نه مراد نفي د تأکيد ده، نه نفي د استحباب ، او پدې خبره په ردالمحتار کې هم صراحت شوی، خو په امام باندې د مقديانو خيال ساتل لازم دي.

(اعلاء السنن ۳/۴۳-۴۴)

د ديوبند مدرسې ستر محدث او منل شوی فقيه محمد انورشاه کشميري رحمه الله فرمايي: ابن امير الحاج رحمه الله پدې خبره صراحت کړی چې دا ټولې دعاګانې (اذکار) ويل جائز دي آن تردې چې په جماعت لمانځه کې يې هم ويل پدې شرط جائز دي چې په مقتديانو سخته او درنه تمامه نشي، او زما په نزد هم راجح (غوره) قول هم دادی کوم چې ابن امير الحاج اختيار کړی.

(فيض الباري شرح البخاري۳/۸۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د تکبير تحريمه نه وروسته اذکار

يادونه: له لاندې دوو ذکرونو نه د په يوه بسنه وشي.

❁ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلا إِلَهَ غَيْرُكَ. (ابو داود)

ژباړه: الهي! تا په پاکۍ سره يادوم، او ستا ستاينه کوم، او مبارک دی نوم ستا، او لوی دی شان او شوکت ستا، او بې له تانه بل څوک د عبادت وړ نشته.

❁ اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اَللّٰهُمَّ نَقِّنِيْ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ.اَللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ. (البخاري)

ژباړه: الهي! زما او زما د ګناهونو تر مينځ دومره لرې والی راولې، لکه څنګه چې دې د مشرق او مغرب تر مينځ لرې والی را وستی دی، الهي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له خپلو ګناهونو نه داسې پاک کړې لکه څنګه چې سپینه جامه له خیرو نه پاکه کړای شي، الهي! ما له ګناهونو نه په اوبو، واوره او ږلۍ سره ووینځې.

## ۲- درکوع اذکار

❁ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ. (کم له کمه درې ځلې). (ترمذي)

ژباړه: پاک دی زمالوی پروردګار.

❁ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اَللَّهُمَّ اغْفِرْلِيْ.

(بخاري، ابن ماجه)

ژباړه: ای الله ﷻ! زمونږ پروردګاره! تا په پاکۍ سره یادوم او تا لره ستاینه کوم، الهي! ما ته بښنه وکړه.

❁ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ. (مسلم، ابوداود)

ژباړه: ډیر پاک او ډیر مقدس دی پروردګار د ملائکو او د روح (جبرائیل علیه السلام).

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوْتِ، وَالْمَلَكُوْتِ، وَالْكِبْرِيَاءِ، وَالْعَظَمَةِ. (ابوداود)

ژباړه: پاک دی څښتن د زبرځواکۍ، او غټې پاچاهۍ، او د لويۍ، او د عظمت.

❁ اللّٰهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، خَشَعَ لَكَ سَمْعِيْ، وَبَصَرِيْ، وَمُخِّيْ، وَعَظْمِيْ، وَعَصَبِيْ، وَمَا اسْتَقَلَّ بِهِ قَدَمِيْ. (مسلم، بيهقي)

ژباړه: الهي! خاص تا ته مې سر ټيټ کړی، او په تا مې ايمان راوړی، او تا ته تسليم يم، او تسليم دي تا لره زما غوږونه، او زما سترګې، او زما ماغزه، او زما هډوکي، او زما پلې، او (زما ټغه جسم) کوم چې زما پښو اوچت کړيدی.

له علي ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله په فرض لمانځه کې رکوع وکوله نو ويل به يې "اللّٰهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَ..." (سنن الدارقطني)

## ۳- د رکوع نه د پورته کیدو اذکار

۞ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ. (البخاري)

ژباړه: واوریده الله ﷻ له هغه چا نه چې د هغه حمد او ثنا یې وویله.

۞ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ.

ژباړه: ای زمونږ پروردګاره! تا لره پوره ستاینه ده.

۞ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْداً كَثِيْراً طَيِّباً مُبَارَكًا فِيْهِ.

(البخاري)

ژباړه: ای زمونږ پروردګاره! تا لره پوره ستاینه ده، ستاینه ډیره زیاته، پاکه او مبارکه.

فضیلت: په حدیث کې راځي چې په لومړي ځل چې کوم صحابي دا دعا وویله رسول الله ﷺ وفرمایل :ما څه دپاسه دیرش ملایکې ولیدې چې دا دعا یې د الله تعالی دربار ته وړله. (البخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ، اَللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. (مسلم)

ژباړه: الهي! ای زمونږ پروردګاره! تا لره پوره ستاینه ده، د آسمانونو او ځمکې، او د دې دواړو ترمینځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغه شیانو چې وروسته یې غواړې (د خلقت اراده یې وکړې)، ای د ستاینې او لویې خاونده! ته ډیر لایق یې د هغه (صفت) چې یو بنده ویلی دی، او مونږ ټول ستا بندګان یو، الهي! ته چې (چاته) څه ورکړې، د هغه (څوک) بندونکی نشته، او ته چې (له چا نه) څه بند کړې د هغه (څوک) ورکونکی نشته، او فایده نه ورکوي مالدار لره د هغه مال (ستا د عذاب په لرې کولو کې).

(c) ketabton.com: The Digital Library



له علي ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به..... کله په فرض لمانځه کې له رکوع نه سر را پورته کړ نو ویل به یې "اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَوَاتِ وَ..... ". (سنن الدارقطني)

## ۴- د سجدې اذکار

❁ سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى (کم له کمه درې ځلې) (ترمذي، ابن ماجه)

ژباړه: پاک دی زما لوی پروردګار.

❁ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلاَئِكَةِ وَالرُّوحِ (مسلم، ابو داود)

ژباړه: ډیر پاک او ډیر مقدس دی پروردګار د ملائکو او د روح (جبرائیل علیه السلام).

❁ سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ، والْمَلَكُوتِ، وَالْكِبْرِيَاءِ، وَالْعَظَمَةِ. (ابوداود)

ژباړه: پاک دی څښتن د زبرځواکۍ، او غټې پاچاهۍ، او د لویۍ، او د عظمت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ أَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَصَوَّرَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ، تَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ. (مسلم)

ژباړه: الهي! تا لره مې سجده وکړه، او په تا مې ايمان راوړ، او تا ته تسليم شوم، زما مخ هغه ذات لره سجده وکړه چې هغه يې پيدا کړی، او صورت او شکل يې ورکړی، او غوږونه او سترګې يې ورکړې دي، با برکته دی الله جلاله چې له ټولو نه غوره پيدا کونکی دی.

له علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به کله په فرض لمانځه کې سجده وکوله نو ويل به يې "اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَ....." (سنن الدارقطني)

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اَللَّهُمَّ اغْفِرْلِي.

(بخاري، ابن ماجه)

ژباړه: الهي! پاکي ده تا لره، زمونږ پروردګاره! او تا لره ستاينه کوم، الهي! ما ته بښنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ، دِقَّهُ وَجُلَّهُ، وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، وَعَلاَنِيَتَهُ وَسِرَّهُ. (مسلم)

ژباړه: الهي! وبښه زما ټول ګناهونه، واړه او لوی، لومړني او وروستني، ښكاره او پټ.

❁ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَىٰ نَفْسِكَ. (مسلم)

ژباړه: الهي! زه ستا په رضا سره ستا له غضب نه، او ستا په عافيت سره ستا له عذاب نه، او په تا سره له تا نه پناه غواړم، زه ستا پوره ستاينه نشم كولاى، ته هماغسي يې لكه څنګه چې تا د ځان ستاينه كړېده.

## ۵- د دوو سجدو تر مينځ اذكار

❁ رَبِّ اغْفِرْ لِي رَبِّ اغْفِرْ لِي. (ابوداود، ابن ماجه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ای پروردګاره! ماته بښنه وکړه، ای پروردګاره! ماته بښنه وکړه.

❁ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَاجْبُرْنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي، وَارْفَعْنِي. (ترمذي، ابوداود، ابن ماجه)

ژباړه: الهي! ما ته بښنه وکړې، او په ما رحم وکړې، او هدايت راته وکړې، او نقصان مې پوره کړې، او ما ته عافيت را کړې، او روزي راته را کړې، او ما (مقام مې) اوچت کړې.

## ٦- د تلاوت د سجدې ذکر

❁ سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِي خَلَقَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ، فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ. (ترمذي، احمد)

ژباړه: زما مخ هغه ذات لره سجده وکړه چې هغه يې پيدا کړی، او غوږونه او سترګې يې ورکړې دي په خپل قدرت او طاقت سره، نو بابرکته دی الله ﷻ، چې له ټولو نه ښه پيداکونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْراً، وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا، وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا، وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُد. (ترمذي)

ژباړه: الهي! ته د دې (سجدې) په بدل کې ماته د خپل ځان سره اجر وليکه، او په هغه سره له مانه د ګناه (بار) کښته کړه، او هغه له خپل ځان سره زما لپاره توښه وګرځوه، اوله مانه يې داسې قبوله کړه، لکه څنګه چې دې له خپل بنده داود (ﷺ) نه قبوله کړې ده.

## ۷- د سلام نه مخکې دعاګانې

❁ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ. (مسلم، نسائي)

ژباړه: الهي! زه پناه غواړم په تا سره د دوزخ له عذاب نه، او د قبر له عذاب نه، او د ژوند او مرګ له فتنونه، او د مسيح دجال د فتنې له شرنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضيلت : ابن عباس فرمايي چې رسول الله ﷺ به مونږ ته دا دعا داسې (په اهتمام سره) ښودله لکه څنګه چې به يې دقرآنکريم يو سورت راته ښودلو. (ابن ماجه)

❁ اللَّهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ.

(ابن ماجه)

ژباړه: الهي! زه له تانه د جنت سوال کوم. او په تاسره له دوزخ نه پناه غواړم.

❁ ﴿ رَبَّنَا ءَاتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ (البقرة:۲۰۱)

ژباړه: اى زمونږ پروردګاره! مونږ ته په دنيا کې نيکى راکړې، او په آخرت کې نيکى راکړې، او د دوزخ له عذاب نه مو وساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلاَةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ رَبَّنَا اغْفِرْلِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ﴾ (ابراهيم: ۴۰-۴۱)

ژباړه: ای پروردګاره! ما او زما اولاد د لمانځه قايمونکي وګرځوه، ای ربه! زما دعا قبوله کړې. ما وبښې او زما مور او پلار وبښې. او ټولو مسلمانانو ته ببښنه وکړې. په هغه ورځ چې حساب او کتاب کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په لمانځه کې قولي اوفعلي سنتونه

## قولي سنتونه

د لمانځه پورتني تقريبا ۲۴ قولي سنتونه (اذكار او د عاګانې) كه د شپې او ورځې د معروفو نفلي لمنځونو په هر ركعت كې وويل شي نو له څلور سوو څخه زيات سنتونه كيږي، اوكه په فرض او سنت لمنځونو كې ادا كړای شي، نو په شپه او ورځ كې له اووه سوو څخه زيات سنتونه كيږي چې مجموعا له يولس سوو څخه زيات سنتونه كيږي.

## فعلي سنتونه

د لمانځه فعلي سنتونه چې د فقهې په كتابونوكې په تفصيل سره د تكبير تحريمه نه تر سلام پورې ذكر شوي دا سنتونه كه په فرض سنت او نفل لمونځونو كې ادا كړی شي نوپه شپه او ورځ كې ددې عدد تر زرو سنتونو پورې رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سهار لمانځه سنتونه

## ۱- د سهار سنتونه خفیف او مختصر اداکول

عائشه رضی الله عنها فرمایي چې: رسول اللهﷺ به د فجر آذان او اقامت تر منځ دوه مختصر رکعتونه کول. (متفق علیه)

## ۲- د سهار په سنتونو کې مسنون سورتونه ویل

په لومړي رکعت کې د فاتحې نه وروسته الکافرون او په دوهم کې د الاخلاص سورت لوستل. (ابن حبان)

## ۳- د سهار له لمانځه نه وروسته په مسجد کې کښیناستل

په حدیث شریف کې راځي چې رسول اللهﷺ به کله د سهار لمونځ ادا کړو بیا به تر هغه په خپله مصلاه کې ناست وو تر څو به لمر ښه پورته شو. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! مونږ له تا نه مدد غواړو. او له تانه بښنه غواړو. او پر تا ایمان لرو. او پر تا توکل کوو. او ستا په خیر سره ستاینه کوو. او ستا شکر ادا کوو او ستا ناشکري نه کوو. او له هغه چا نه لرې ځو او پرېږدو يې څوک چې ستا نافرماني کوي.

الهي! خاص ستا عبادت کوو، او خاص تاته لمونځ او سجده کوو. او تاته ستا په اطاعت او کار کې ګړندي درځو. ستا د رحمت امید لرو او ستا له عذاب نه ویرېږو بې له شکه ستا عذاب کفارو ته رسیږي.

۞ اللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِيْ فِيْمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِيْ فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِيْ فِيْمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِيْ شَرَّ مَا قَضَيْتَ، فَإِنَّكَ تَقْضِيْ وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَّالَيْتَ، وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ. (ترمذي، ابن ماجه، ابوداود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وتر لمانځه سنتونه

## ۱- په وتر لمانځه کې مسنون سورتونه لوستل

په اول رکعت کښې د الاعلی، په دوهم کښې د الکافرون، او په دریم کښې د الاخلاص سورتونه لوستل. (ابو داود، ترمذي، ابن ماجه)

## ۲- د وتر لمانځه دعا (قنوت)

**یادونه:** له لاندې دعاوو څخه یوه ویل کفایت کوي:

۞ اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ، وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ. اللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَنَخْشَى عَذَابَكَ، إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ.

(الدر المنثور للسیوطي، ابوداود في المراسیل، السنن الکبری)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! د هغو کسانو په جمله کې چې تا ورته هدايت کړی ما ته هم هدايت وکړه. او د هغو کسانو په جمله کې چې تا ورته عافيت کړی ما ته هم عافيت وکړه. ما هم له شر نه وساته او د هغو کسانو په جمله کې چې تا محفوظ کړي ما هم محفوظ کړه. او څه چې د راکړي په هغه کې راته برکت واچوه، او څه چې تا فيصله کړې، د هغه له شر نه مې وساته. ځکه همدا ته فيصله کوونکی يې. او ستا د حکم څوک دفعه کوونکی نشته. په رښتيا سره چې ته له چا سره دوستي وکړې، هغه به خوار نشي. او له چا سره چې دښمني وکړې. هغه به عزتمند نشي، ته مبارک ذات يې. او د لويي، څښتن يې ای زمونږ پروردګاره!.

## ۳- د وتر وله لمانځه نه وروسته ذکر

❁ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ رَبِّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ

(درې ځلې، درېم ځل به لوړ او اوږده اواز سره)

(نسائی، دار قطنی)

ژباړه: پاکي ده دکايناتو پاچا لره. پوره پاکي ده. د ملايکو او جبرايل پروردګار لره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په شپه او ورځ کښې نفلي لمنځونه

## ۱- د فرض لمنځونو سره سنت لمنځونه

رسول الله ﷺ فرمايي: «چا چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته لمونځ ادا کړو، هغه ته به په جنت کښې يو کور جوړ کړای شي، څلور رکعته د ماسپښين د فرضونه وړاندې، دوه له هغې وروسته، دوه د ماښام نه وروسته، دوه د ماخوستن نه وروسته او دوه رکعته له سهارنه مخکښې.». (الترمذي)

يادونه: پورتنيو دولسو رکعتونو ته نفلي لمونځ پدې اعتبار وايي چې له فرض لمونځ نه علاوه او اضافه دي، او سنت ځکه ورته وايي چې نبي کريم ﷺ مواظبت يا هميشه والی پرې کړی.

## ۲- د اشراق لمونځ

رسول الله ﷺ فرمايي: «څوک چې د سهار لمونځ په جماعت سره وکړي، او بيا د الله ﷻ ذکر کوي تردې چې لمر اوچت شي، او بيا دوه رکعته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي نوده ته د يو حج او يوې عمرې مکمل، مکمل، مکمل اجر ورکول کيږي». (الترمذي)

## ٣- د څاښت (ضحی) لمونځ

ابو هريرة رضي الله عنه فرمايي: ماته زما خليل ﷺ د دريو خبرو وصيت کړی وو: يو دا چې په هره مياشت کښې درې ورځې روژه ونيسم. دوهم دا چې د څاښت دوه رکعته لمونځ وکړم. او دريم دا چې له ويده کيدو وړاندې وتر لمونځ وکړم. (متفق عليه)

يادونه: بعضې علماء د اشراق او څاښت لمونځ يو ګڼي.

فائده: دا لمونځ د ٣۶٠ صدقاتو برابر دی. ځکه چې د انسان په جسم کښې ٣۶٠ غړي (بندونه) دي. او د هر بند شکر ادا کولو لپاره صدقې ورکولو ته ضرورت دی، لکه چې رسول الله ﷺ فرمايي: «په تاسې کښې د هر شخص په هر بند (غړي) باندې هره ورځ صدقه لازميږي، نو هر ځل سبحان الله ويل صدقه ده، او هر ځل الحمدلله ويل صدقه ده، او هر ځل لااله الاالله ويل صدقه ده، او هر ځل الله اکبر ويل صدقه ده، او د نيکی، هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار صدقه ده. او د بدۍ نه منع کول صدقه ده، او د دې هرڅه لپاره د څاښت پروخت دوه رکعته لمونځ کفايت کوي». (مسلم)

## ۴- د مازديگر لمونځ نه وړاندې څلور رکعته

نبي کريمﷺ فرمايي: «الله ﷻ دې په هغه چا رحم وکړي چې د مازديگر نه وړاندې څلور رکعته اداکړي». (ابو داود، ترمذي)

## ۵- د ماخوستن نه وړاندې نفل لمونځ

رسول اللهﷺ فرمايي: «د هرو دوو آذانونو تر منځ لمونځ دی. د هر دوو آذانونو تر منځ لمونځ دی. په دريم ځل يې وفرمايل: چې د چا خوښه شي». (متفق عليه)

امام نووي رحمه الله فرمايي: د دوو آذانونو نه مراد آذان او اقامت دی.

## ۶- نفل لمنځونه په کور (استوګن ځای) کې کول

رسول اللهﷺ فرمايي: «د فرض لمانځه نه علاوه د انسان تر ټولو غوره لمونځ هغه دی چې په کور کې يې کوي». (متفق عليه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ فرمايي: «د انسان هغه نفل لمونځ چې د خلکو څخه يې پټ کوي. له هغه لمانځه چې هغه يې د خلکو وړاندې کوي پنځه ويشت درجې لوړ دی». (ابو يعلى)

رسول الله ﷺ فرمايي: «د انسان هغه لمونځ چې په کور کې يې کوي. د هغه پر هغه لمونځ چې د خلکو په وړاندې يې کوي داسې فضيلت لري. لکه فرض لمونځ چې په نفل لمونځ فضيلت لري». (طبراني)

د دې سنت فايده او فضيلت دا دي چې:

- په دې سره د انسان په لمانځه کې خشوع او اخلاص زياتيږي او د رياء څخه پرې ژغورل کيږي.
- په کور رحمت راوريږي. او شيطان له کور څخه وځي.
- د نفل لمونځ اجر څو چنده زياتيږي. لکه د فرض لمونځ اجر چې په مسجد کې زياتيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سترې طرف ته لمونځ کول

رسول الله ﷺ فرمايي: «کله چې له تاسې نه څوک لمونځ کول غواړي نو د سترې طرف ته دې لمونځ ادا کړي. او هغې ته دې نژدې شي، او د خپل ځان او سترې تر منځ دې چاته د تیرېدو اجازه نه ورکوي.

(ابو داود، ابن ماجه)

دا حدیث ددې خبرې دلیل دی، چې د هر لمانځه لپاره ستره کېښودل سنت عمل دی. که لمونځ کوونکی په جومات کې وي که په کور کې، که نارینه وي که ښځينه، ډېر لمونځ کوونکي په دې سنت دعمل نه کولو په وجه خپل ځان ددې له اجر څخه محروموي. حال دا چې په دې سنت هم د نورو سنتونو په څېر په شپه او ورځ کښې ډېر ځلې عمل کیدای شي، که د فرض لمانځه نه وړاندې او وروسته سنت لمنځونه، تحية المسجد، وتر، د اشراق او څاښت او فرض لمنځونه د سترې طرف ته وشي نو انسان د همدې یو سنت په تکرارولو سره ډېر زیات اجر ترلاسه کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترې بعضې مسائل:

- ستره هر هغه شي ته وايي چې لمونځ کوونکی يې د قبلې طرف ته خپلې مخې ته ږدي مثلاً: ديوال، ستنه، لکړه، چوکۍ وغيره.
- د سترې د عرض کوم حد مقرر ندی، مګر اوږدوالی يې کم نه کم يوه لويشت وي.
- امام نووي رحمه الله فرمايي د سترې او لمونځ کوونکي تر منځ تقريباً درې لاسه فاصله پکار ده، دومره چې د سجدې لپاره ځای ولري.
- ستره د امام او منفرد دواړو لپاره يو شانې مشروع ده، که فرض لمونځ وي او که نفل.
- د امام ستره د مقتديانو لپاره هم کفايت (بسنه) کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترې فوائد:

- که ستره موجوده وي نو د لمونځ کوونکي نظر په يوه ځای پاتې کيږي، او په دې سره په لمانځه کښې خشوع پيداکيږي. او که ستره نه وي نو د لمونځ کوونکي نظر بل خواته ځي چې په دې سره دهغه فکر منتشر کيږي.

- که ستره موجوده وي نو تيريدونکو خلکو ته آسانتيا وي، او کنه نو لمونځ کوونکی د نورو لپاره دلارې سد جوړيږي.

## د استخارې دعا او لمونځ

څوک چې د خالق نه خير وغواړي. او د مؤمنانو سره مشوره وکړي. او په کار کې ښه فکر وکړي، نو هيڅکله به پښيمانه نشي. الله ﷻ فرمايي: ژباړه: «او له دوی (مؤمنانو) سره په کار کې مشوره وکړه، او چې کله (د کار کولو) عزم او اراده وکړې، نو پر الله ﷻ توکل او تکيه وکړه».

(آل عمران: ۱۵۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه: د لاندې حدیث د لفظ نه دا معلومیږي چې په ټولو کارونو کې استخاره کول پکار دي، که هغه جهادي وي، که اجتماعي، که سیاسي وي، او که اقتصادي، تر څو د الله ﷻ له جانبه ورته د خیر طرف روښانه شي، خو د الله ﷻ نافرمانۍ، او د فرائضو اداکولو ته استخاره کول جائز نه دي.

د استخارې له لارې په اصل کې انسان له الله ﷻ څخه په خپلو کارونو کې د توفیق او هدایت سوال کوي، د څه په نتیجه کې چې الله ﷻ د انسان په زړه کې د هغې کار د فائدې او نقصان په باره کې الهام کوي، او د هغه زړه یوې خواته مطمئن کوي. بله دا چې الله ﷻ حالات، واقعات او دهغې مقدمات هم هغې خوا ته ګرځوي کومې خوا ته چې استخاره کونکي خیر غوښتلی وو، او یوې خوا ته د استخاره کونکي قناعت او اطمئنان حاصلیدل په حقیقت کې د الله ﷻ له جانبه هدایت او د استخارې ځواب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنې خلک استخاره له خوب ليدلو سره مشروطه وي، خو دا ضروري نده. ځکه چې الله ﷻ دخپل بنده په زړه کې د خير جانب ته ميلان او اطمئنان په ويښه او خوب دواړو حالتونو کې اچولی شي.

د استخارې لپاره نفل لمونځ د مکروهه وختونو نه پرته په هر وخت کې ادا کولی شي.

امام نووي رحمه الله فرمايي: که استخاره کونکی له لمونځ کولو نه عاجز وي، نو يواځې په دعا هم اکتفا (بسنه) کولی شي.

حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنهما فرمايي: پيغمبر ﷺ به مونږ ته په هر کار کې د استخارې داسې ښوونه کوله. لکه څنګه چې به يې مونږ ته د قرآنکريم د يو سورت ښوونه کوله، (او داسې به يې) فرمايل: «کله چې له تاسې نه څوک د کوم کار کولو اراده وکړي، نو دوه رکعته غير فرضي (نفل) لمونځ دې وکړي. او بيا دې ووايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ اللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ (د هغه کار نوم به اخلي) خَيْرٌ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ فَاقْدُرْهُ لِيْ وَيَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ (د هغه کار نوم به اخلي) شَرٌّ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ ارْضِنِيْ بِهِ. (البخاري)

ژباړه: الهي! زه ستا په علم سره له تا نه خير غواړم. او ستا په قدرت سره له تا نه طاقت غواړم. او ستا د لوی فضل او رحمت سوال درنه کوم، ځکه ته قادر يې. او زه عاجز يم. او ته پوهيږې او زه نه پوهيږم، او ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیبو ښه پوه یې. الهي! که ته پوهیږې چې دا کار — د هغه کار نوم به اخلي — زما لپاره په دین او دنیا کې، او انجام د کار کې خیر وي. نو ته یې زما په برخه کړې، او ما لره یې آسانه کړې، او بیا ما لره په هغه کې برکت واچوې، او که ته پوهیږې چې دا کار زما لپاره په دین او دنیا کې، او په انجام د کار کې بد دی. نو له ما نه یې وګرځوې. او ما له هغه نه وساتې، او ما ته خیر را په برخه کړې چیرته چې وي. او بیا ما په هغه بسره خوشحاله کړې».

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خاصو ورځو ځانګړي سنتونه

## د جمعې د ورځې سنتونه

### ۱- د سورت کهف تلاوت کول

له ابو سعید ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي "چاچې د جمعې په ورځ سورت کهف تلاوت کړو د هغه لپاره به (دا تلاوت) د دوو جمعو تر منځ رڼا (بصیرت) جوړېږي. (صحیح الجامع)

### ۲- په کثرت سره دعا کول

له جابربن عبدالله ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي" د جمعې ورځ په دولسو برخو ویشل شوې په هغې کې یوه برخه داسې ده چې هیڅ مسلمان بنده به داسې نه وي چې په هغې کې یې له الله ﷻ نه څه غوښتي وي او الله ﷻ هغه نه وي ورکړي.نو دا وخت له مازدیګره وروسته په آخري برخه کې ولټوئ. (ابو داود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- په كثرت سره درود ويل

اوس بن اوس ﷺ له نبي كريم ﷺ څخه روايت كوي چې هغوی فرمايل " جمعه ستاسې له بهترينو ورځو څخه ده، په همدې ورځ آدم ﷺ پيدا شوی، په همدې ورځ بيا وفات شوی، په همدې ورځ به (دقيامت) شپيلۍ پوكل كيږي، په همدې ورځ به (دقيامت) څيره وهل كيږي، نو په همدې ورځ پرما زيات درود وايئ. (ابوداود، النسائي)

## د دوشنبې او پنجشنبې د ورځې روژه نيول

اسامه ﷺ فرمايي رسول الله ﷺ به د دوشنبې او پنجشنبې په ورځ روژه نيوله او فرمايل به يې " په دې دوو ورځو كې اعمال د الله ﷻ په دربار كې وړاندې كيږي. (ابن خزيمه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ایام بیض (قمري میاشتې ۱۵،۱۴،۱۳) روژې نیول

ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي رسول الله ﷺ ماته د دریو کارونو وصیت کړی : د هرې میاشتې درې روژې نیول ، د څاښت دوه رکعته لمونځ کول ، او له ویده کیدو وړاندې د وتر لمونځ کول. (البخاري)

## د عاشورا (۱۰ د محرم) روژه نیول

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي : د عاشوراء روژه و نیسئ او په هغې کې د یهودو مخالفت وکوئ نو یوه روژه ترې وړاندې یا وروسته هم ونیسئ. (مسنداحمد)

## د عرفات د ورځې روژه نیول

ابو قتادة رضي الله عنه فرمایي چې له رسول الله ﷺ څخه د عرفات د ورځې روژې پوښتنه وشوه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل :دا روژه د تیر کال او راتلونکي کال ګناهونه معاف کوي. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجهاد اړوند دعاګانې

### ۱- د حکمران له ظلم نه د ځان ساتنې دعا

❁ اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ، وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، كُنْ لِي جَاراً مِنْ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ وَأَحْزَابِهِ مِنْ خَلَائِقِكَ، أَنْ يَفْرُطَ عَلَيَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَوْ يَطْغَى، عَزَّ جَارُكَ، وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. (الأدب المفرد للبخاري)

ژباړه: الهي! ای د اوو آسمانونو پروردګاره! او د لوی عرش پروردګاره! زما لپاره پناهګاه (ساتنځای) شې له دې نه چې فلانکی د فلانکي زوی، او د هغه ډلې چې ستا د مخلوقاتو نه دي پر ما زیاتی او تجاوز وکړي، چا ته چې ته پناه ورکړې هغه غالبه دی، او ډیره لویه ده ستاینه ستا، او بې له تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته.

❁ اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَعَزُّ مِنْ خَلْقِهِ جَمِيعاً، اللهُ أَعَزُّ مِمَّا أَخَافُ وَأَحْذَرُ، أَعُوذُ بِاللهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، الْمُمْسِكِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ أَنْ يَقَعْنَ عَلَى الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ، مِنْ شَرِّ عَبْدِكَ فُلَانٍ (د هغه کس نوم به اخلي) وَجُنُودِهِ وَأَتْبَاعِهِ وَأَشْيَاعِهِ، مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ، اللَّهُمَّ كُنْ لِي جَاراً مِنْ شَرِّهِمْ، جَلَّ ثَنَاؤُكَ وَعَزَّ جَارُكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ. (درې ځلې) (الأدب المفرد للبخاري)

ژباړه: الله ﷻ ډیر لوی دی، الله ﷻ له خپل ټول مخلوق نه زورور دی، الله ﷻ له هغه چا نه ډیر زورور دی، له کوم نه چې زه ویریږم، او خطر احساسوم، په هغه الله ﷻ سره پناه غواړم کوم چې بې له هغه نه بل د عبادت وړ معبود نشته، او (هغه ذات) چې ټینګونکی د اوو آسمانونو دی، له دې نه چې بې دده له اجازې او حکم نه پر ځمکه را ولویږي، (پناه غواړم) ستا د فلانکي بنده له شر نه، او د هغه له انسي او جني پیروانو او لښکرو نه، الهي! د دوی له شر نه زما لپاره پناهګاه شې، او ډیره لویه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاینه ستا، او مبارک دی نوم ستا، او بې له تا نه د عبادت وړ معبود نشته.

## ۲- دښمن ته ښیرا کول

❁ اللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ، سَرِيعَ الْحِسَابِ، اهْزِمِ الْأَحْزَابَ، اللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ. (مسلم)

ژباړه: الهي! ای د کتاب نازلونکیه! ای ژر حساب کونکیه! (د دښمنانو) ډلو ته ماتې ورکړې، الهي! ته ماتې ورکړې، او ځمکه یې تر پښو لاندې ولړزوې.

## ۳- د دښمن سره مخامخ کیدو دعا

❁ اللّٰهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِيْ نُحُوْرِهِمْ، وَنَعُوْذُ بِكَ مِنْ شُرُوْرِهِمْ. (ابو داود، حاکم)

ژباړه: الهي! مونږ تا د دوی مقابلې ته ګرځوو، او په تا سره د دوی له شر نه پناه غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ. (البخاري)

**ژباړه: الله ﷻ مونږ ته بس او کافي دی، او هغه ښه کار ساز دی.**

**فضیلت: په حدیث کې راغلي چې دا دعا ابراهیم ﷺ اور ته د غورځیدو پرمهال او نبي ﷺ د مشرکانو سره د جنګ پرمهال ویلې وه.** (البخاري)

## ۴- د کوم قوم نه چې ویره لرې دا دعا به وایې

❁ اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْهِمْ بِمَا شِئْتَ. (مسلم)

**ژباړه: الهي! څنګه چې ته غواړې هماغسې مې د هغوی له شر نه وساتې.**

## ۵- د جنګ پر مهال دعا

❁ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ عَضُدِيْ وَأَنْتَ نَصِيْرِيْ، بِكَ أَحُوْلُ وَبِكَ أَصُوْلُ وَبِكَ أُقَاتِلُ. (ابو داود، ترمذي)

**ژباړه: الهي! ته زما مټ یې، او ته مې مددګار یې، ستا (په قدرت) سره ګرځم راګرځم، او (په دښمن باندې) حمله کوم، او جنګیږم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶- د دښمن له محاصرې نه د وتلو دعا

❁ اللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا. (احمد)

ژباړه: الهي! زمونږ کمزورۍ پټې کړې، او زمونږ ډار او خوف په امن تبدیل کړې.

## ۷- د دښمن له نظر نه د ځان ساتنې او پټیدو اذکار

امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسیر الجامع لاحکام القرآن کې د روایاتو او سیرت په رڼا کې د قرآن کریم څو آیاتونه ذکر کړي د کومو په قرآئت سره چې مسلمان د دښمن له سترګو او نظر نه پټ پاتې کیدای شي:

د ابوبکر رضي الله عنه له لور اسماء څخه روایت دی هغه فرمايي چې کله د "تبت يدا ابي لهب" سورت رانازل شو نو ام جمیل بنت حرب (د ابولهب ښځه) پداسې حال کې چې ډبره یې په لاس وه او په چغو او غصه یې دا الفاظ زمزمه کول "مذمما ابينا، و دينه قلينا، و امره عصينا " او د نبي علیه السلام په لټه کې وه او نبي علیه السلام د ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره په جومات (مسجدالحرام) کې ناست وو. کله چې ابوبکر رضي الله عنه هغه ولیده نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويې فرمايل : اى رسول الله ﷺ هغه (ام جميل) راغله او زه ويريږم چې تاسې وه نه ويني، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه مانشي ليداى، بيا هغوى (رسول الله ﷺ) دا آيت قرآئت كړ :

﴿ وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَسْتُورًا. (الاسراء: ٤٥)

نو ( ام جميل) د ابوبكر ﷺ مخې ته ودرېده او رسول الله ﷺ يې ونه ليدو...... (مستدرک حاکم)

امام قرطبي فرمايي : كعب ﷺ ددې آيت په تفسير كې فرمايلي: رسول الله ﷺ به د مشريكينو څخه په دريو آياتونه ځان پټولو او ساتلو:

﴿ "وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ إِنَّا جَعَلْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِن تَدْعُهُمْ إِلَى الْهُدَى فَلَن يَهْتَدُوا إِذًا أَبَدًا " ( الكهف: ۵۷)

" أُولَئِكَ الَّذِينَ طَبَعَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَأَبْصَارِهِمْ وَأُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ " ( النحل: ۱۰۸)

" أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَهَهُ هَوَاهُ وَأَضَلَّهُ اللَّهُ عَلَى عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَى سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَى بَصَرِهِ غِشَاوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِن بَعْدِ اللَّهِ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ " ( الجاثية : ۲۳)

**امام قرطبي رحمه الله فرمايي : دې آيتونو ته د سورت يس له شروع نه تر " فهم لا يبصرونه" پورې آيتونه هم بايد اضافه شي :**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يس (1) وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ (2) إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ (3)
عَلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (4) تَنْزِيلَ الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ (5) لِتُنْذِرَ
قَوْمًا مَا أُنْذِرَ آبَاؤُهُمْ فَهُمْ غَافِلُونَ (6) لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ
عَلَى أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (7) إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ
أَغْلَالًا فَهِيَ إِلَى الْأَذْقَانِ فَهُمْ مُقْمَحُونَ (8) وَجَعَلْنَا مِنْ
بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ
لَا يُبْصِرُونَ (۹) (يس : ۱-۹)

په سيرت کې ثابته ده چې د رسول الله ﷺ کور د هجرت پرمهال مشرکينو محاصره کړو نو رسول ﷺ علي رضي الله عنه پر خپله بستره پريښود او خپله له کوره ووتلو او يو موټی خاوره يې راواخيستله او د سورت يس له شروع نه تر (فهم لا يبصرون) پورې آيتونه يې قرآئت کړل او له کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه را چاپیره شوو ټولو مشرکینو په سرونو یې دا خاورې واچولې او الله ﷻ د هغوی ستر ګې او نظر بند کړو او رسول ﷺ د هغوی له مخې سره تیر شو.

بیا امام قرطبي رحمه الله خپله یوه واقعه ذکر کوي چې په قرطبه کې زه د دښمن له مخې وتښتیدم او یوې خواته شوم نو د دښمن دوه عسکر زما په لټه کې راووتل او زه په خلاص میدان کې پاتې شوم او هیڅ شی پیدا نشو چې زه یې شاته پټ شم نو ما د سورت یس دا آیتونه او د قرآن نور آیتونه تلاوت کړل، نو هغوی دواړه زما مخې ته تیرشول او بیا را وګرځیدل او یو هغه بل ته ووې یل چې دا پیری وو، او دا ځکه الله ﷻ د دوی ستر ګې او نظر واخیستلو او الحمدلله زه یې ونه لیدم.

(الجامع لأحکام القرآن للإمام قرطبي رحمه الله: ۱۰ /۲۶۹-۲۷۰)

## ۸- د جنګ له میدان نه د بیرته راتلو دعا

په هر لوړ ځای درې ځلې الله اکبر وېل، او بیا دا دعا وېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُوْنَ، إِنْ شَاءَ اللهُ تَائِبُوْنَ، عَابِدُوْنَ حَامِدُوْنَ لِرَبِّنَا سَاجِدُوْنَ، صَدَقَ اللهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ.

(بخاري، مسلم)

ژباړه: بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته، یو دی، شریک نه لري، هغه لره پاچاهي او غوره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر دی، مونږ بیرته راتلونکي، توبه ایستونکي، عبادت کونکي، یواځې د خپل پروردګار ستایونکي یو، الله ﷻ خپله وعده رښتونې کړه، او د خپل بنده مرسته یې وکړه، او په یواځې یې (د کفارو) ډلو ته ماتې ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خلکو سره د لیدو کتو سنتونه

## ۱- سلام اچول

د نبي کريم ﷺ نه پوښتنه وشوه چې په اسلام کې کوم عمل غوره دی؟ ويې فرمایل: «خلکوته ډوډۍ ورکول، او هر چا باندې سلام اچول که ته يې پيژنې او که نه». (متفق علیه)

یو کس د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او ويې ویل: السلام علیکم، رسول الله ﷺ (دسلام)ځواب ورکړ او بیا کښیناست، رسول الله ﷺ وفرمایل: «د ده لپاره لس نیکۍ دي»، بیا بل کس راغلو هغه وویل: السلام علیکم ورحمة الله . رسول الله ﷺ ځواب ورکړ او بیا کښیناست ، رسول الله ﷺ وفرمایل: «د ده لپاره شل نیکۍ دي»، بیا بل کس راغلو هغه وویل: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته، رسول الله ﷺ ځواب ورکړ او بیا کښیناست. رسول الله ﷺ و فرمایل: «د ده لپاره دیرش نیکۍ دي». (ابوداود، الترمذي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې د سلام په یوه برخه اکتفا کوي او پوره سلام نه اچوي، هغه څومره اجر او ثواب ضایع کوي. که پوره سلام ووایي نو دیرش نیکۍ ورته لیکل کیږي. او یوه نیکي په لس نیکیو لیکل کیږي. نو پوره سلام ویونکي ته درې سوه نیکۍ لیکل کیږي. او الله ﷻ چې چاته وغواړي تردې هم زیاتې نیکۍ ورته لیکي، نوخپله ژبه د پوره سلام ویلو سره عادي کول پکار ده، تر څو دومره عظیم اجر او ثواب تر لاسه شي.

دا خبره مه هیروئ لکه څنګه چې سلام د ملاقات په وخت سنت دی د جدا کیدو په وخت هم سنت دی. رسول الله ﷺ فرمایي: ستاسې نه چې څوک مجلس ته لاړشي نو سلام دې ووایي او چې بیا له هغه ځایه تلل غواړي نو بیا دې سلام ووایي ځکه چې ملاقات د جدایی نه زیات د سلام حق نه لري. (ابوداود والترمذي)

## ۲- په ورین تندي اوخندا سره مخامخ کیدل

رسول الله ﷺ فرمایي: «د نیکۍ کوم کار حقیر مه ګڼئ اګر که د خپل ورور سره په ورین تندي مخامخ کیدل هم وي». (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳- مصافحه یالاس ورکول

رسول الله ﷺ فرمایي: «دوه مسلمانان چې کله یوبل سره مصافحه کوي نو د یوبل نه تر جدا کیدو وړاندې الله ﷻ د هغوی ګناهونه معاف کوي».

(ابو داود، ابن ماجه، ترمذي)

امام نووي رحمه الله فرمایي: چې د هر ملاقات په وخت لاس ورکول مستحب دي.

## ۴- نیکه او ښه خبره کول

رسول الله ﷺ فرمایي: «نیکه خبره کول صدقه ده». (متفق علیه)

نیکه خبره: ذکر، دعا، سلام، ښه اخلاقو او آدابو ټولو ته ویل کیږي.

## ۵- د مجلس دعا

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله ﷺ به په یوه مجلس کې په شمار سل ځلې دا دعا ویله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ.

ژباړه: ای زما پروردګاره! ببښنه راته وکړې، او توبه مې قبوله کړې، په رښتيا سره چې ته ښه توبه قبلوونکی، ډير ببښوونکی يې.

(ترمذي، ابن ماجه)

## ۶- د مجلس کفاره

﴿ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ. (ابن ماجه، ابوداود، ترمذي، النسائي)

ژباړه: الهي! تا په پاکۍ سره يادوو ، او ستا پوره ستاينه کوو ، زه شاهدي ورکوم، چې بې له تا نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته. زه له تا نه ببښنه غواړم، او تا ته توبه کوم.

په حديث کې راغلي دي چې څوک په يو مجلس کې کښيني او بې ځايه خبرې په کې وکړي او د پاڅيدو نه مخکې نوموړې دعا ووايي په دې مجلس کې ټول کړي ګناهونه به الله تعالی ورته معاف کړي او که د نيکۍ مجلس وي نو دا دعا به د مهر په شان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- څوک چې چا ته ووايي: "غَفَرَ اللهُ لَكَ" يعني: الله دې تا ته بښنه وکړي. نو هغه ته به ځواب داسې وايي: " وَلَكَ" يعني: الله دې تا ته هم بښنه وکړي. ( احمد، نسایی)

10

۸- څوک چې چا ته ووايي: "إِنِّي أُحِبُّكَ فِي اللهِ" يعني: زه درسره د الله لپاره محبت لرم. هغه ته به په ځواب کې داسې وايي: "أَحَبَّكَ الَّذِيْ أَحْبَبْتَنِي لَهُ" يعني: هغه ذات دې درسره محبت وکړي چې تا د هغه لپاره زما سره محبت کړيدی. (ابو داود)

۹- څوک چې تا سره ښه وکړي هغه ته دعا

❁ جَزَاكَ اللهُ خَيْراً. (ترمذي)

ژباړه: الله دې تا لره خير (او نيک اجر) در کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰- څوک چې خپل مال تا ته وړاندې کړي هغه ته دعا.

بَارَكَ اللهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ. (البخاري)

ژباړه: الله دې تا ته ستا په عیال او مال کې برکت واچوي.

## ۱۱- د قرض اداء کولو په وخت قرض ورکونکي ته دعا

بَارَكَ اللهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ، إِنَّمَا جَزَاءُ السَّلَفِ الْحَمْدُ وَالْأَدَاءُ.

ژباړه: الله جل جلاله دې تا ته ستا په عیال او مال کې برکت واچوي. په رښتیا سره چې د قرض بدله په ستاینه او اداینه سره وي.

(عمل اليوم والليله، نسائي، ابن ماجه)

## ۱۱- د مسلمان د ستایلو طریقه

د ابوبکر رضي الله عنه نه روایت دی. چې یو سړي د نبي عليه السلام په وړاندې د

چا ستاینه وکړه. نو هغوی ورته درې ځلې وفرمایل: «ته د هلاک شې.

تا د خپل ورور څټ غوڅ کړو».

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر ﷺ وفرمایل: «کله چې له تاسو نه څوک د خپل ملګري هرو مرو صفت کول غواړي، نو داسې دې ووايي:

﴿ أَحْسِبُ فُلَاناً وَاللهُ حَسِيبُهُ وَلَا أُزَكِّي عَلَى اللهِ أَحَداً أَحْسِبُهُ كَذَا وَكَذَا. ﴾ (مسلم)

ژباړه: زه (په فلاني) همداسې ګمان کوم. او الله تعالی د هغه په حال ښه خبر دی (زه د هیچا په زړه نه یم خبر. او په زړونو عالم یو الله دی) او د الله ﷻ په وړاندې د هیچا تزکیه. او د هغه په سپیڅلتیا حکم نه کوم. زه په هغه داسې ګمان کوم.

(دا په هغه وخت کې) چې د هغه نه خبر وي».

د ستاینې درې سنتونه دي:

- چې ستاینه ضروري وي. او بې ځایه نه وي.
- ستاینه د پیژندنې په اساس وي. او په هغې کې دروغ او مبالغه نه وي.
- ستاینه په پورتنیو محطاتو الفاظو وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۲- کله چې د یو مسلمان صفت وشي نو هغه به داسې وايي

❁ اللّٰهُمَّ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا يَقُولُونَ، وَاغْفِرْ لِي مَا لَا يَعْلَمُونَ، وَاجْعَلْنِي خَيْرًا مِمَّا يَظُنُّونَ. (الأدب المفرد للبخاري)

ژباړه: الهي! ته ما په هغه څه مه نيسه چې دوی يې زما په اړه وايي، او ما ته د هغه څه ببښنه وکړې چې دوی پرې خبر نه دي. او دوی چې په ما څه گمان کوي له هغه نه مې غوره وګرځوې.

## ۱۳- د پرنجيدلو دعا

پيغمبرﷺ فرمايي: «کله چې له تاسو نه څوک وپرنجيږي. نو ودې وايي: "الْحَمْدُ لِلّٰهِ" (يعني ټوله ستاينه الله لره ده). هغه بل کس (اوريدونکی) به ورته وايي: "يَرْحَمُكَ اللّٰهُ" (يعني الله تعالی دې پر تا رحم وکړي). هغه بل به بيا ورته وايي: "يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ" (يعني: الله ﷻ دې تاته هدايت وکړي. او الله ﷻ دې ستا احوال او کار سم کړي)». (البخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۴ - د قهر او غوسې پر وخت دعا

❁ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: زه په الله ﷻ سره له رټل شوي شیطان نه پناه غواړم.

## ۱۵ - کله چې روژه دار ته څوک ښکنځلې وکړي نو هغه به داسې وايي.

❁ إِنِّي صَائِمٌ، إِنِّي صَائِمٌ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: زه روژه یم. زه روژه یم.

## ۱۶ - څوک چې د ښکنځلي وي هغه ته دعا

❁ اللّٰهُمَّ فَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَبَبْتُهُ فَاجْعَلْ ذٰلِكَ لَهُ قُرْبَةً إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: الهي! کوم مؤمن ته چې مې ښکنځلې کړې دي، نو هغه ورته د قیامت په ورځ ځان ته د نژدیکت سبب وګرځوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۷- د نظر له ویرې دعا

کله چې له تاسو نه څوک له خپل ورور. او یا په خپل ځان کې. او یا خپل مال کې داسې څه وګوري چې له هغه نه تعجب وکړي. نو د هغه لپاره دې د برکت دعا وکړي. ځکه چې نظر کیدل حق دي. (احمد، ابن ماجه)

مثلا و دوایي چې الله ﷻ دې برکت په کې واچوي.

## ۱۸- د تعجب او خوشحالونکي کار پیښیدو په وخت دعا

نبي ﷺ ته چې به کله خوشحالونکی کار مخې ته راغی نو داسې به یې ویل:

❁ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ.

(ابن السني، الحاکم)

ژباړه: پوره ستاینه هغه الله ﷻ لره ده چې په نعمت سره یې نیک کارونه ترسره کیږي.

❁ سُبْحَانَ اللهِ! (بخاري، مسلم)

ژباړه: الله ﷻ لره ټوله پاکي ده.

❁ اللهُ أَكْبَرُ! (بخاري، احمد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الله ﷻ ډیر لوی دی.

## ۱۹- د خواشینونکي کار د پیښیدو پر مهال دعا

نبي ﷺ ته به چې کله ناخوښ کار پیښ شو نو داسې به یې ویل:

❁ الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ. (ابن السني، الحاكم)

ژباړه: پوره ستاینه ده الله ﷻ لره په هر حال کې.

## ۲۰- د مصیبت په وخت دعا

❁ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ، اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَاخْلُفْ لِي خَيْراً مِنْهَا. (مسلم)

ژباړه: بې شکه چې مونږ الله ﷻ لره یو. او هغه ته ورتلونکي یو. ای الله ﷻ ما ته زما په مصیبت کې اجر راکړې او د هغه په بدل کې ما ته له هغه نه ښه راکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډوډۍ خوړلو سنتونه

## د ډوډۍ نه وړاندې او د خوړلو پر مهال سنتونه

### ۱- بسم الله ویل

که په پیل کې ترې هېره شوه چې کله ورپه یاد شي ودې وایي:

﴿ بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ - یا بِسْمِ اللهِ فِي أَوَّلِهِ وَآخِرِهُ. (ترمذي)

ژباړه: په اول او آخر کې د الله په نامه سره (خوراک کوم)

### ۲- په ښي لاس خوړل

رسول الله ﷺ فرمایي: «په ښي لاس خوراک او څښاک کوئ ځکه چې شیطان په چپ لاس خوړل او څښل کوي». (موطا، احمد)

### ۳- د خپل طرف نه ډوډۍ خوړل

تیر درې سنتونه په دې حدیث کښې ذکر دي: یو هلک د رسول ﷺ سره ډوډۍ ته کښیناست نو رسول الله ﷺ ورته و فرمایل: «ای هلکه! بسم الله ووایه او په ښي لاس یې خوره او له خپل طرف نه یې خوره». (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- که مړی (لقمه) د چانه ولويږي نو د هغې څنډل او بیا خوړل

رسول الله ﷺ فرمايي: «کله چې له تاسې نه مړی ولويږي نو هغه دې وځنډي او بیا دې يې وخوري». (مسلم)

## ۵- په دريو ګوتو خوړل

حديث شريف کښې راځي :رسول الله ﷺبه په دريو ګوتو مړی خوړله. (مسلم)

## ۶- ډوډۍ ته د کښيناستلو طريقه

په زنګنونو (د التحيات په شکل)کښيناستل. او يا ښی پښه درول او په چپه پښه کښيناستل. (فتح الباري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ډوډۍ خوړلو نه وروسته سنتونه

## ۱- د لوښي او ګوتو څټل

رسول الله ﷺ د ګوتو او لوښي څټلو امر کړی او فرمايلي يې دي چې تاسې ته نه ده معلومه چې برکت په څه کښې دی. (مسلم)

## ۲- د خوړلو نه وروسته د الله شکر ادا کول

حديث شريف کښې راځي چې: الله ﷻ له هغه بنده نه راضي کيږي چې د خوړلو نه وروسته د هغه شکر ادا کوي. (مسلم)

رسول الله ﷺ به په لاندې دعا سره د الله ﷻ شکر ادا کولو:

۞ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِيْنَ.

(ابوداود، ترمذي، ابن ماجه)

ژباړه: ټوله ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چې پر مونږ يې خواړه وخوړل. او پر مونږ يې اوبه وڅښلې. او مونږ يې مسلمانان وګرځولو.

د دې دعا فضيلت دا دی چې د دې ويونکي تېر ګناهونه معاف کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْراً مِنْهُ. (ترمذي)

ژباړه: الهي! مونږ ته پدې خواړو کې برکت واچوې. او له هغه نه ښه خواړه را کړې.

❁ الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ، غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَلَا مُوَدَّعٍ، وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا. (بخاري، ترمذي)

ژباړه: ټوله ستاینه الله جل جلاله لره ده. ستاینه ډیره زیاته. پاکه. او بابرکته. نه پوره کیدونکې. او نه پریښودونکې. او له هغه نه نه مستغني کیدونکې ستاینه. ای زمونږ پروردګاره!.

## ۳- د روژه ماتي په وخت کې دعا

❁ ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ العُرُوقُ، وَثَبَتَ الأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ. (ابو داود)

ژباړه: تنده ولاړه. او رګونه لانده شول. او که الله جل جلاله وغواړي اجر حاصل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۞ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ بِرَحْمَتِكَ الَّتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ أَنْ تَغْفِرَ لِيْ. (ابن ماجه)

ژباړه: الهي! زه ستا په هغه رحمت سره چې هر څه ته رسيدونکی دی. له تا نه سوال کوم چې ماته ببښنه وکړې.

## ۴- د چا په کور کې د روژه ماتي په وخت دعا

۞ أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ، وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الأَبْرَارُ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ المَلَائِكَةُ. (ابوداود، ابن ماجه)

ژباړه: تاسو کره دې روژه دار روژه ماته کړي، او ستاسو ډوډۍ دې نيکان وخوري. او ملايکې دې در ته دعا وکړي.

## ۵- څوک چې چا ته څښاک يا خوراک ورکړي هغه ته دعا

۞ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! تاچې دوی ته څه ورکړي په هغه کې برکت واچوې، او هغوی ته بښنه وکړې، او پرې ورحمیږې.

## ۶- څوک چې په چا اوبه وڅښي یا یې د ورکولو اراده وکړي، هغه ته دعا

❁ اللَّهُمَّ أَطْعِمْ مَنْ أَطْعَمَنِيْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِيْ. (مسلم)

ژباړه: الهي! ته خواړه ورکړه هغه چاته چې ماته یې خواړه راکړل، او خړوبه کړه هغه څوک چې زه یې خړوبه کړم.

## ۷- د حیوان ذبحه کولو پر وخت دعا

❁ بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ، اللَّهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ، اللَّهُمَّ تَقَبَّلْ مِنِّي. (مسلم، بیهقي)

ژباړه: د الله ﷻ په نوم (حلالول کوم). الله ﷻ ډیر لوی دی. الهي! دا (قرباني) ستا له طرف نه ده، او ستا لپاره یې حلالوم. الهي! ته یې را څخه قبوله کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د څښلو سنتونه

## ۱- بسم الله ويل

## ۲- په ښي لاس څښل

رسول الله ﷺ فرمايي: «په ښي لاس خوراک او څښاک کوئ ځکه چې شيطان په چپ لاس خوړل او څښل کوي». (موطا، احمد)

## ۳- د څښلو په وخت د لوښي نه بهر ساه (نفس) اخيستل او په دريو ساګانو (نفسونو) اوبه څښل

په حديث شريف کې راځي چې رسول الله ﷺ به د څښلو په وخت درې ځله ساه (تنفس) اخيستلو. (مسلم)

## ۴- په ناسته څښل

رسول الله ﷺ فرمايي: ستاسې نه دې څوک په ولاړه څښل نه کوي. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د څښلونه وروسته الحمد لله ویل

رسول الله ﷺ فرمايي: «الله ﷻ له هغه بنده څخه راضي کيږي چې وخوري او (دهغې شکر اداکړي) الحمد لله ووايي. او چې کله وڅښي نو (د هغې شکر ادا کړي) الحمدلله ووايي». (مسلم)

## ۶- د شیدو څښلو دعا

۞ اللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ. (ترمذي)

ژباړه: الهي! مونږ ته په هغه کې برکت واچوې. او مونږ ته نور هم زيات راکړې.

# د سفر اړوند اذکار

## ۱- د سپریدو دعا

۞ بِسمِ اللهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ﴿سُبْحٰنَ الَّذِىْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ، وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ﴾ (زخرف:۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: د الله ﷻ په نامه سره. الله ﷻ لره پوره ستاینه ده. پاک دی هغه ذات چاچې مونږ ته دا سپرلۍ په ولکه کې راکړې (مسخره کړې) او مونږ د هغې مهاروونکي نه یو. او مونږ خپل پروردګار ته بیرته تلونکي یو.

۞ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، سُبْحَانَكَ إِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْلِيْ فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ. (ابوداود، ترمذي)

ژباړه: الله ﷻ لره پوره ستاینه ده (درې ځلې)، الله ﷻ ډیر لوی دی (درې ځلې)، په پاکۍ سره یادوو تا ای الله ﷻ. ما پر خپل ځان زیاتی کړیدی. نو ماته بښنه وکړې. چې په رښتیا سره بې له تا نه بل څوک ګناهونه نشي بښلای.

## ۲- د سفر دعا

درې ځلې "الله اکبر" ویل. بیا لاندې دعا ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ ﴿سُبْحٰنَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ، وَاِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ﴾ (زخرف: ۱۳)

❁ اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِيْ سَفَرِنَا هٰذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوٰى، وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضٰى. اللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هٰذَا، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهٗ، اللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِيْ السَّفَرِ وَالْخَلِيْفَةُ فِي الْأَهْلِ. اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ وَّعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ، وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ. (مسلم)

ژباړه: پاک دی هغه ذات چې مونږ ته يې دا (سورلۍ) تابع کړېده. او مونږ د هغه مهاروونکي نه يو. الهي! مونږ پدې سفر کې له تا نه د نيکۍ او پرهيزګارۍ، او د داسې عمل سوال کوو چې تا ته خوښ وي. الهي! ته مونږ ته دا سفر آسانه کړې. او اوږدوالی يې راته لنډ کړې. الهي! ته مو په سفر کې ملګرى. او په کور کې سرپرست يې. الهي! زه په تا سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پناه غواړم د سفر له سختۍ نه، او له خوار حالت نه، او مال او عيال ته له ناوړه بيرته ستنيدونه .

او چې کله له سفر نه بيرته ستنيدونکی وي نو همدا دعا به وايي، او ورسره به دا هم وايي:

آيِبُوْنَ، تَائِبُوْنَ، عَابِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ. (مسلم)

ژباړه: بيرته راتلونکي، توبه ايستونکي، عبادت کونکي، دخپل پروردګار ستايونکي يو.

## ۳- د مقيم دعا مسافر ته

أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكَ وَأَمَانَتَكَ، وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ.

(احمد، ترمذي)

ژباړه: زه ستا دين، او ستا امانت، او ستا د کارونو انجام الله ﷻ ته سپارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ زَوَّدَكَ اللهُ التَّقْوَى وَغَفَرَ لَكَ ذَنْبَكَ وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ حَيْثُ مَا كُنْتَ. (ترمذي)

ژباړه: الله ﷻ دې درته د پرهيزګارۍ توښه درکړي. او الله ﷻ دې ستا ګناه وبښي. او چېرته چې يې (الله ﷻ دې) درته نيکي آسانه کړي.

## ۴- د مسافر دعا مقيم ته

❁ أَسْتَوْدِعُكُمُ اللهَ الَّذِيْ لَا تَضِيْعُ وَدَائِعُهُ. (احمد)

ژباړه: هغه الله ﷻ ته دې سپارم. چې هغه ته سپارل شوي نه ضايع کيږي.

## ۵- په سفر کې تکبير او تسبيح

جابر رضي الله عنه فرمايي: کله به چې پورته ختلو نو (الله اکبر) به مو ويل. او کله به چې ښکته کيدو نو (سبحان الله) به مو ويل. (البخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶- د سهار په وخت د مسافر دعا

❁ سَمَّعَ سامِعٌ بِحَمْدِ اللهِ، وَحُسْنِ بَلائِهِ عَلَيْنَا رَبَّنَا صَاحِبْنَا، وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا عَائِذاً بِاللهِ مِنَ النَّارِ. (مسلم)

ژباړه: يو شاهدي ورکونکي الله ﷻ لره (زمونږ) پر ستاينه . او پر مونږ باندې د هغې د ښو نعمتونو شاهدي ورکړه، ای پروردګاره! زمونږ مل اوسه، او خپل (بې شماره) نعمتونه (په خپل فضل سره) مونږ ته را کړه. پناه غواړم په الله ﷻ سره (د دوزخ) له اور نه.

## ۷- په سفر يا پرته له سفر نه په يو ځای کې د کوزيدلو او ودرېدلو دعا

❁ أَعوذُ بِكَلِماتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ. (مسلم)

ژباړه: د الله ﷻ په بشپړ کلام سره د هغه څه له شر نه پناه غواړم چې الله ﷻ پيداکړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸- بازار ته د ننوتلو دعا

❁ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. (ترمذي)

ژباړه: بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته. يو دی شريک نه لري. هغه لره پاچاهي او غوره ستاينه ده. ژوند ورکوي. او مرګ را ولي. او هغه (هميشه) ژوندی دی. مرګ نه لري. خير د ده په لاس کې دی. او هغه پر هر څه قادر او برلاسی دی.

## ۹- کلي يا ښار ته د ننوتلو دعا

❁ اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمٰوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظْلَلْنَ، وَرَبَّ الْأَرَضِينَ السَّبْعِ وَمَا أَقْلَلْنَ، وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضْلَلْنَ، وَرَبَّ الرِّيَاحِ وَمَا ذَرَيْنَ، أَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْقَرْيَةِ وَخَيْرَ أَهْلِهَا وَخَيْرَ مَا فِيهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ أَهْلِهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا. (حاکم، ابن سني)

ژباړه: الهي! د اوو آسمانونو او د هغو تر سیوري لاندې مخلوقاتو پروردګاره! او د اوو ځمکو او د هغو پرسر مخلوقاتو پروردګاره! او د شیطانانو او په هغوی سره ګمراه شویو مخلوقاتو پروردګاره! او د بادونو او په هغوی سره د الوزل شویو مخلوقاتو پروردګاره! زه د دې کلي خیر. او د هغه د اوسیدونکو خیر. او د هغه څه خیر درنه غواړم کوم چې په هغه کې دي. او په تا سره پناه غواړم د هغه (کلي) له شر نه، او د هغه د اوسیدونکو له شر نه، او د هغه څه له شر نه کوم چې په هغه کې دي.

## ۱۰- د خره د هنګاري په وخت دعا

❁ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ.

ژباړه: پناه غواړم په الله ﷻ سره د رټل شوي شیطان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱- د چرګ د آذان په وخت دعا

❁ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: الهي! زه ستا د فضل سوال کوم.

رسول الله ﷺ فرمايي: «کله چې د چرګ آذان واورئ، نو د الله ﷻ نه د هغه د فضل سوال وکړئ. ځکه چې هغه د آذان په وخت کې ملايکه ليدلې وي. او کله چې د خره هنګار واورئ، نو په الله ﷻ سره له شيطان نه پناه وغواړئ. ځکه چې هغه د هنګاري په وخت شيطان ليدلی وي».

## د موسم اړوند اذکار او دعاګانې

## ۱- د نوې مياشت ليدلو دعا

❁ اللهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالأَمْنِ وَالإِيْمَانِ، وَالسَّلَامَةِ وَالإِسْلَامِ، وَالتَّوْفِيْقِ لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضَى، رَبُّنَا وَرَبُّكَ اللهُ. (ترمذي، دارمي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الله ﷻ ډیر لوی دی، الهي! نه دغه نوې (میاشت) پر مونږ باندې را وخیژوه، له امن او ایمان سره. او له سلامتیا او اسلام سره، او له توفیق سره هغه څه ته چې ته یې خوښوې، ای میاشتې زمونږ او ستا پروردګار الله ﷻ دی.

## ۲- د موسم اولنۍ میوې لیدو دعا

❁ اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثَمَرِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مُدِّنَا. (مسلم)

ژباړه: الهي! زمونږ په میوه کې راته برکت واچوې. او زمونږ په ښار کې راته برکت واچوې. او زمونږ په (صاع) کې راته برکت واچوې. او زمونږ په (مد) کې راته برکت واچوې.

صاع او مد د وزن دوه پیمانې دي.

فایده: کله به چې رسول ﷺ ته نوې میوه راوړلی شوه هغه به په لاس کې ونیوه او دا دعا به یې وویله. بیا به یې په حاضرو خلکو کې تر ټولو کوچني ته ورکړه. (مسلم، الموطأ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳- د باد الوتلو په وخت دعا

❁ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا.

(ابوداود، ابن ماجه)

ژباړه: الهي! له تا نه د دې باد دخیر سوال کوم. او له شر نه یې په تا سره پناه غواړم.

❁ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَخَيْرَ مَا فِيهَا، وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا فِيهَا، وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ. (مسلم، بخاري)

ژباړه: الهي! زه له تا نه د دې باد د خیر سوال کوم. او د هغه څه د خیر سوال درنه کوم چې په هغه کې دی. او کوم خیر چې له ځان سره یې راوړی دی. او په تا سره پناه غواړم د هغه له شر نه. او د هغه څه له شر نه چې په هغه کې دی. او له هغه شر نه چې له ځان سره یې راوړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- د تالندې دعا

❁ سُبْحَانَ الَّذِیْ یُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالمَلَائِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ. (موطا)

ژباړه: پاک دی هغه ذات چې تالنده او ملايكې د هغه له ويرې نه د هغه حمد ثنا او تسبيح وايي.

## ۵- د استسقاء (باران غوښتنې) لپاره څو دعاګانې

❁ اللّٰهُمَّ اسْقِنَا غَيْثاً مُغِيثاً مَرِيئاً مَرِيعاً، نَافِعاً غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلاً غَيْرَ آجِلٍ. (ابو داود)

ژباړه: الهي! پر مونږ باران و وروې. نجات وركونكى. مزه لرونكى، واښه شنه كونكى. فايده رسونكى، ضرر نه رسونكى. ژر كيدونكى، نه ځنډيدونكى.

❁ اللّٰهُمَّ أَغِثْنَا، اللّٰهُمَّ أَغِثْنَا، اللّٰهُمَّ أَغِثْنَا.

(بخاري، مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! پر مونږ باران و ورويږ، الهي! پر مونږ باران و ورويږ. الهي! پر مونږ باران و ورويږ.

❁ اللّٰهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ، وَبَهَائِمَكَ، وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ، وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ. (ابو داود)

ژباړه: الهي! خپل بنده ګان، او خپل څاروي خړوب کړه. او خپل رحمت خپور کړه. او خپل مړ ښار ژوندی کړه.

## ۶- د آسمان شين کيدو دعا

❁ اللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا، اللّٰهُمَّ عَلَى الْآكَامِ وَالظِّرَابِ، وَبُطُونِ الْأَوْدِيَةِ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: الهي! زمونږ په شاوخوا يې و وروه. او نه پر مونږ باندې. الهي! پر غرورغو او د خوړونو په مينځونو. او د ونو شنه کيدلو ځايونو کې يې و وروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷- د باران وریدو په وخت کې دعا

❁ اللَّهُمَّ صَيِّباً نَافِعاً. (بخاري)

ژباړه: الهي! د خیر او فایدې باران یې کړې.

## ۸- د باران وریدلو نه وروسته دعا

❁ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: د الله ﷻ په فضل او رحمت سره پر مونږ باران و وریده.

# په اهل او اولاد پورې اړوندې دعاګانې

## ۱- واده کونکي ته دعا

❁ بَارَكَ اللهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ.

(ابو داود)

ژباړه: الله ﷻ دې تا لره برکت درکړي. او پر تا دې برکت وکړي، او تاسې دواړه دې په خیر سره یو ځای کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د خپلې ښځې (میرمنې) لپاره دعا

❁ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا، وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ.

(ابو داود، ابن ماجه)

ژباړه: الهي! زه له تا نه د دې (میرمنې) د خیر سوال کوم. او د هغه څه د خیر سوال درنه کوم په کوم چې تا هغه پیداکړې ده. او پناه غواړم په تا سره د دې له شر نه. او له هغه شر نه په کوم چې تا هغه پیدا کړې ده.

## ۳- له خپلې ښځې سره د کوروالي نه مخکې دعا

❁ بِسْمِ اللهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا. (بخاري، مسلم)

ژباړه: د الله ﷻ په نوم. الهي! ته مو له شیطان نه لیرې کړې. او شیطان زمونږ له هغه اولاد نه لیرې کړې چې تا مونږ ته را کړی (مقدر کړی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فضیلت:** رسول الله ﷺ فرمايي: کله چې يو کس له تاسو نه د کوروالي اراده وکړي او دا دعا ووايي او اولاد يې پيدا شي ، هيڅکله به شيطان ورته ضرر ونه رسوي.

## ۴- مور او پلار ته د اولاد مبارکي ورکول

بَارَكَ اللهُ لَكَ فِي المَوْهُوبِ لَكَ، وشَكَرْتَ الوَاهِبَ، وبَلَغَ أَشُدَّهُ، وَرُزِقْتَ بِرَّهُ.

**ژباړه:** الله ﷻ دې ستا په درکړل شوي ماشوم کې برکت واچوي. او د هغه د ورکونکي شکر اداء کړې. او ماشوم دې خپل قوت (ځوانۍ) ته ورسيږي. او د هغه نيکي (ښيګڼه او فرمانبرداري) دې په نصيب شه.

(الأذكار للنووي)

## ۵- او د ماشوم والدين به په ځواب کې داسې وايي:

بَارَكَ اللهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيكَ، وَجَزاكَ اللهُ خَيْراً، وَرَزَقَكَ اللهُ مِثْلَهُ، وَأَجْزَلَ ثَوابَكَ. (الأذكار للنووي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الله ﷻ دې تا ته برکت درکړي. او پر تا دې برکت کښېږدي. او الله ﷻ دې تا ته نيکه جزا (ثواب) درکړي. او همداسې ماشوم دې در په برخه کړي، او ثواب دې تا ته زيات کړي.

## ۶- ماشومانو د حفظ او امان لپاره دعا

❁ أُعِيذُكَ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ. (بخاري)

ژباړه: زه د الله ﷻ په کامل کلام سره تا ته له هر شيطان. او زهر ناک حيوان نه. او له هرې آفت او ضرر رسونکې سترګې نه پناه غواړم.

رسول الله ﷺ به د حسن او حسين رضي الله عنهما لپاره په همدې الفاظو پناه غوښتله او فرمايل به يې "أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللهِ...." (بخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خفگان او غم دعاگانې

### ۱- چا ته چې يو کار مشکل شي د هغه دعا

❁ اللّٰهُمَّ لَا سَهْلَ إِلَّا مَا جَعَلْتَهُ سَهْلاً، وَأَنْتَ تَجْعَلُ الْحَزَنَ إِذَا شِئْتَ سَهْلاً. (ابن حبان)

ژباړه: الهي! هيڅ آسانه شی نشته. مگر هغه چې ته يې آسان کړې. او ته چې وغواړې سخت او گران آسانوې.

### ۲- د پريشانۍ او غم ليرې کولو دعا

❁ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالْحَزَنِ، والعَجْزِ وَالْكَسَلِ، والْبُخْلِ والْجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ وغَلَبَةِ الرِّجَالِ. (البخاري)

ژباړه: الهي! زه په تا سره پناه غواړم له پريشانۍ او غم نه. او له کمزورتيا (سستۍ) او لټۍ نه. او بخيلتوب او بې زړه توب نه. او د قرض له زياتيدو او د خلکو له غلبې موندلو نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❁ اللَّهُمَّ إِنِّيْ عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِيْ بِيَدِكَ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَلَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَداً مِّنْ خَلْقِكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِيْ كِتَابِكَ، أَوْ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِيْ عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيْعَ قَلْبِيْ، وَنُوْرَ صَدْرِيْ، وَجَلَاءَ حُزْنِيْ وَذَهَابَ هَمِّيْ. (احمد)

ژباړه: الهي! زه ستا بنده، ستا د بنده زوی، ستا د مینځې زوی یم، زما غاړه ستا په لاس کې ده، ستا حکم پر ما جاري دی، ستا فیصله زما په حق کې عادلانه ده، ستا په هر هغه نوم سره له تا نه سوال کوم، چې تا خپله خپل ځان په هغه نومولی دی، او یا دې په خپل کتاب کې نازل کړیدی، او یا دې له خپل مخلوق نه چا ته ښودلی دی، او یا دې په خپل غیبي علم کې له ځان سره ساتلی دی، پدې ټولو درنه سوال کوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قرآنکریم زما د زړه پسرلی، او د سینې روښنایي، او د غمونو لرې کونکی، او د پریشانیو ختمونکی وګرځوې.

## ۳- د بې قرارۍ دعا

❁ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: بل د عبادت وړ (معبود) نشته بې له هغه الله ﷻ نه چې لوی او حلم لرونکی دی. بل د عبادت وړ (معبود) نشته بې له الله ﷻ نه چې د لوی عرش څښتن دی. بل د عبادت وړ (معبود) نشته بې له الله ﷻ نه چې د آسمانونو او ځمکې پروردګار دی، او د عزتمند عرش پروردګار دی.

❁ اللّٰهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُو فَلَا تَكِلْنِي إِلٰى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ، وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ. (ابوداود، احمد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! زه ستا د رحمت امید لرم، نو زما نفس ته مې د سترګې د رپ په اندازه هم مه پرېږده، او زما کارونه ټول راته اصلاح کړې، بې له تا نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته.

❁ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ.
(الترمذي)

ژباړه: بې له تا نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته، پاک يې ته، په رښتيا سره زه له ظالمانو نه يم.

❁ اللّٰهُ اللّٰهُ رَبِّي لَا أُشْرِكُ بِهِ شَيْئاً. (ابوداود، ابن ماجه)

ژباړه: الله ﷻ الله ﷻ زما پروردګار دی، له هغه سره هيڅ شريک نه بولم.

## ۴- د قرض نه د خلاصيدو دعا

❁ اللّٰهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ. (ترمذي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! ستا په حلالو مې ستا له حرامو نه وساتې، او ستا په فضل مې بې له تا له بل هر چا نه بې نیازه کړې.

فضیلت: علي رضي الله عنه فرمایي "که پر تا باندې دغره په اندازه قرض هم وي الله به يې (ددې دعا په ویلو) درنه ادا کړي". (ترمذي)

## ۵- د شیطاني وسوسې لرې کولو دعا

❁ أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ. (مسلم)

ژباړه: له رټل شوي شیطان نه په الله ﷻ سره پناه غواړم.

او بیا د چپ طرف ته درې ځلې لاړې تف کړي.

## ۶- د بدشګومۍ بد ګڼلو دعا

❁ اللّٰهُمَّ لَا طَيْرَ إِلَّا طَيْرُكَ، وَلَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُكَ، وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ. (احمد، ابن سني)

ژباړه: الهي! بد شګومي يوازې ستا لخوا نه او ستا په حکم سره ده، او خير هم ټول ستا لخوا نه دی، او بې له تا نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضیلت: رسول الله ﷺ فرمايي: کوم کس چې له کوم کار څخه د بَد فالي نیولو له امله شاته شو، نو هغه شرک وکړ، صحابه کرامو وویل: کفاره يې څه ده؟ هغوی و فرمایل: دا (دعا) د ووايي..." (احمد)

## ۷- د دجال له فتنې نه ځان ساتل

رسول الله ﷺ فرمايي: چا چې د سورت کهف اولني لس آيتونه ياد کړل، له دجال نه به وژغورل شي. (مسلم)

او همدارنګه په هر لمانځه کې د وروستنۍ ناستې د (التحيات) نه وروسته په الله ﷻ سره د دجال له فتنې نه پناه غوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مرض اړوند دعاګانې

## ۱- په بدن کې د درد احساسولو دعا

دردمند کس به خپل لاس د خپل بدن په دردمن ځای کیږدي، او درې ځلې به بسم الله ووايي، او اوه ځلې به لاندې دعا ووايي:

❁ أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ. (مسلم)

ژباړه: زه په الله ﷻ سره او د هغه په قدرت سره پناه غواړم د هغه څه له شر نه چې ما ته رسیدلی دی، او زه ځنې ویریږم.

## ۲- د مریض پوښتنې په وخت هغه ته دعا

❁ لَا بَأْسَ طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللهُ. (البخاري)

ژباړه: څه پروا نشته، دا مریضي که الله ﷻ وغواړي ستا د ګناهونو د پاکوالي سبب به وي.

❁ أَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ.

( ترمذي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له هغه لوی او عظمت واله الله ﷻ نه سوال کوم چې د لوی عرش څښتن دی، چې تالره شفا او روغتیا درکړي. (اوه ځلې)

فضیلت: رسول الله ﷺ فرمايي: چې يو مسلمان د داسې يو ناروغ پوښتنه وکړي چې دمرګ نیټه يې نه وي راغلې او دا دعا اوه ځله ووايي الله تعالی به يې خامخا رغوي. (احمد، ترمذي)

## ۳- د ژوند نه د نا امیده مریض ځان ته دعا

❁ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الْأَعْلَى. (بخاري، مسلم)

ژباړه: الهي! ما ته بښنه وکړې. او پر ما رحم وکړې. او د لوړ مقام والا پیغمبرانو سره مې يو ځای کړې.

❁ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ لَسَكَرَاتٍ. (البخاري)

ژباړه: بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ ( معبود ) نشته، په رښتیا سره چې مرګ ډېرې سختۍ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ.

(ترمذي)

**ژباړه: بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته. الله ﷻ ډير لوی دی، بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته هغه يو دی. بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته. هغه يو دی شريک نه لري. بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته هغه لره پاچاهي ده، هغه لره پوره ستاينه ده، بې له الله ﷻ نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته، او نشته طاقت او قوت (د ګناه نه د ځان ساتلو، او د نيکيو د کولو) مګر د يو الله ﷻ په مدد او توفيق سره.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مرګ اړوند دعاګانې

### ۱- د مړي سترګو پټولو په وخت دعا

❁ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِفُلانٍ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ، وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ، وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ، وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ. (مسلم)

ژباړه: اى الله ﷻ فلان كس (نوم به يې اخلي) ته ښښنه وكړې، او د هدايت شويو كسانو په جمله كې يې درجه لوړه كړې، او د هغه وارثانو لپاره له هغه نه وروسته سرپرست اوسې، مونږ او ده ته ښښنه وكړې، اى د مخلوقاتو پروردګاره! او قبر يې ورته پراخ، او روښانه كړې.

### ۲- د جنازې د لمانځه دعا

❁ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا اللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيمَانِ اللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ (ابن ماجه)

ژباړه: اې الله ﷻ! زمونږ ژوندي ته، او مړي ته، او حاضر ته، او غائب ته، او واړه ته، او لوی ته، او نر ته، او ښځې ته، ښښنه وکړې، ای الله ﷻ! له مونږ نه چې چا ته ژوند ور کړې، نو د اسلام سره ژوند ورکړه، او له مونږ نه چې چا ته مرګ راولې، نو له ایمان سره یې مړ کړې، ای الله ﷻ! د دې مړي له اجر نه مو مه محرومه وې. او له هغه نه وروسته مو مه ګمراه کوې.

## ۳- د جنازې د لمانځه نورې دعاګانې

❁ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ، وَعَافِهِ، وَاعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ، وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَأَبْدِلْهُ دَاراً خَيْراً مِنْ دَارِهِ، وَأَهْلاً خَيْراً مِنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَهْلِهِ، وَزَوْجاً خَيْراً مِنْ زَوْجِهِ، وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ، وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ. (مسلم)

ژباړه: ای الله ﷻ! ده ته ښښنه وکړې او رحم پرې وکړې، او عافيت ور ته ورکړې، او عفوه ورته وکړې، او غوره ميلمستيا يې وکړې، او د داخليدو ځای يې پراخه کړې، او په اوبو او واوره او ږلۍ سره يې ووينځې، او له ګناهونو نه يې داسې پاک کړې لکه څنګه چې دې سپينه جامه له خيرو نه پاکه کړيده، او (د دنيا) له کور نه غوره کور، او له کورنۍ، او له ښځې نه يې غوره ښځه ورکړې. او جنت ته يې داخل کړې، او د قبر له عذاب او د دوزخ له عذاب نه يې وساتې.

اَللّٰهُمَّ إِنَّ فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ فِي ذِمَّتِكَ، وَحَبْلِ جِوَارِكَ، فَقِهِ مِنْ فِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَأَنْتَ أَهْلُ الْوَفَاءِ وَالْحَقِّ، فَاغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ. ( ابن ماجه، ابوداود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: اى الله جل جلاله! په رښتيا سره فلان د فلاني زوى ستا په حفظ او ستا په پناه كې دى، نو د قبر له ازمايش نه، او د دوزخ له عذاب نه يې وساتې، او ته د وفا او پيمان څښتن يې، نو هغه ته ښښنه وكړې، او رحم پرې وكړې، بيشكه ته ښښونكى او بې حده مهربان يې.

✿ اللّٰهُمَّ عَبْدُكَ وَابْنُ أَمَتِكَ احْتَاجَ إِلَى رَحْمَتِكَ، وَأَنْتَ غَنِيٌّ عَنْ عَذَابِهِ، إِنْ كَانَ مُحْسِناً فَزِدْ فِي حَسَنَاتِهِ، وَإِنْ كَانَ مُسِيْئاً فَتَجَاوَزْ عَنْهُ. (حاكم)

ژباړه: الهي! ستا بنده، او ستا د مينځې زوى دى، ستا رحمت ته محتاج دى، او ته يې له عذابولو نه بې نيازه يې. كه نيک عمله وي نو نيكۍ يې نورې هم زياتې كړې، او كه ګنهګار وي نو عفوه ورته وكړې.

## ۴- د ماشوم د جنازې دعا

✿ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطاً، وَسَلَفاً، وَأَجْراً

ژباړه: الهي! ته يې زمونږ لپاره مخكښ، او اجر جوړونكى وګرځوې.

(بخاري ،بيهقي ، مصنف عبدالرزاق)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د مړي وارثانو ته د تسلیت دعا

❁ إِنَّ لِلّٰهِ مَا أَخَذَ، وَلَهُ مَا أَعْطَى، وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ. (بخاري، مسلم)

ژباړه: الله ﷻ لره دي څه يې چې واخستل، او هغه لره دي څه چې ورکوي، او هر څه د ده په نزد تر ټاکلې نیټې پورې دي، او ښايي چې صبر وکړې او له الله ﷻ نه ثواب وغواړې.

❁ أَعْظَمَ اللهُ أَجْرَكَ، وَأَحْسَنَ عَزَاءَكَ، وَغَفَرَ لِمَيِّتِكَ.

(اذکار نووي)

ژباړه: الله ﷻ دې تا لره لوی اجر درکړي، او تا لره دې ښه تسلي درکړي، او ستا مړي ته دې بښنه وکړي.

## ۶- د مړي ښخولو په وخت دعا

❁ بِسْمِ اللهِ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللهِ. (ابوداود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: د الله ﷻ په نوم سره، او د پيغمبر ﷺ په سنت سره (يې قبر ته داخلوو).

## ۷- د مړي ښخولو نه وروسته دعا

❁ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْهُ. (ابو داود)

ژباړه: الهي! هغه ته ښښنه وکړې، الهي! ته يې (په سوال او ځواب کې) ثابت قدمه لرې.

## ۸- د قبرونو د زيارت کولو دعا

❁ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ، نَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ. (مسلم)

ژباړه: ای د دې ځايونو اوسيدونکو مؤمنانو او مسلمانانو! پر تاسو دې سلام وي، او که الله ﷻ وغواړي مونږ هم په تاسو پسې يو، او الله ﷻ دې زمونږ په مخکينيو او وروستيو رحم وکړي، زه ځان ته او تاسو ته له الله ﷻ نه عافيت غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شپې په پیل کې بعضې نیک آداب

نبي ﷺ فرمايي " کله چې شپه تیاره شي، یا شپه درباندې راشي نو خپل ماشومان له کورنه بهر مه پرېږدئ، ځکه چې شیطانان پدې وخت کې خورېږي، بیا چې کله د شپې یو ساعت تېر شي نو بیا يې خوشې کړئ، او دروازې موبندې کړئ او د الله ﷻ نوم (پرهغې) یاد کړئ، ځکه چې شیطانان بنده دروازه نشي پرانستلی، او د خپل مشکونو (داوبو ځښلو لوښو) سرونه پټ کړئ، او د الله ﷻ نوم (پرې) یاد کړئ، او خپل لوښي پټ کړئ او د الله ﷻ نوم پرې یاد کړئ. که څه هم له پاسه پرې څه کیږدی، او خپل چراغونه مړه کړئ. " (البخاري، مسلم)

## بعضې عمومي اذکار

### ۱- استغفار او توبه

❁ أَسْتَغْفِرُ اللهَ الْعَظِيمَ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: له هغه لوی او عظمت واله الله ﷻ نه ښښنه غواړم، چې بې له هغه نه بل د عبادت وړ (معبود) نشته، ژوندی دی، (د کایناتو) تدبیرونکی دی، او زه هغه ته توبه وباسم.

رسول الله ﷺ فرمايي: «څوک چې دا دعا ووايي نو الله ﷻ به هغه ته ښښنه وکړي، که څه هم له کفارو سره د جهاد له میدان نه تښتیدلی وي».

(ابو داود، ترمذي)

## ۲- تسبیح

❁ سُبْحَانَ اللهِ. الله ﷻ پاک دی (۱۰۰ ځلې)

فضیلت: څوک چې سل ځلې سبحان الله ووايي، نو (۱۰۰۰) زر ګناهونه به یې معاف شي او (۱۰۰۰) زر نیکۍ به ورته ولیکل شي.

(مسلم)

❁ سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ وبِحَمْدِهِ.

ژباړه: الله ﷻ پاک دی، په عظمت او لویی، او ستاینې سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې دا ذکر ووايي نو په جنت کې به ورته (د هرځل په بدله کې) يوه د خورما ونه وکرل شي. (ترمذي، حاکم)

❁ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ العَظِيمِ.

ژباړه: الله ﷻ پاک دی په ستاینه سره، الله ﷻ پاک دی په عظمت او لويي سره.

فضیلت: رسول الله ﷺ فرمايي: «دوه کلمې دي چې پر ژبه ډيرې آسانه دي، او په تله کې ډيرې درندې دي، او الله ﷻ ته ډيرې خوښې دي، هغه دا دي (سبحان الله و...)». (بخاري، مسلم)

## ۳- الله ﷻ او رسول الله ﷺ ته خوښې کلمې

❁ سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ. (سل ځلې)

ژباړه: الله ﷻ پاک دی، ټوله ستاينه الله ﷻ لره ده، نشته د عبادت وړ (معبود) مګر يو الله ﷻ دی، او الله ﷻ ډير لوی ذات دی. (مسلم، ترمذي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فضیلت: ددې ذکر په ویلو سره لاندې اجرونه تر لاسه کیږي:**

- سل ځله سبحان الله ویلو سره د سلو حجونو ثواب.
- سل ځله الحمد لله ویلو سره د الله ﷻ په لاره کې د سلو آسونو ورکولو یا سل ځله په جهاد کې د شریکیدلو اجر او ثواب.
- د سل ځله لا اله الا الله اجر د اسماعیل علیه السلام له اولاد نه د سلو غلامانو آزادولو برابر دی.
- او د سل ځله الله اکبر ویلو ثواب نه زیات ثواب به پدې ورځ دهیڅ شي نه وي، مګر دهغه چا چې ددې نه زیات الله اکبر ووایي. (ترمذي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- الباقيات الصالحات (د انسان نه وروسته پاتې کيدونکې نيکۍ)

✿ سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَ اللهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. (احمد، مجمع الزوائد)

**ژباړه: الله ﷻ پاک دی، ټوله ستاينه الله ﷻ لره ده، نشته د عبادت ور (معبود) مګر يو الله ﷻ دی، او الله ﷻ ډير لوی ذات دی، او نشته طاقت او قوت (د ګناه نه د ساتلو، او د نيکيو د کولو) مګر د يو الله ﷻ په مدد او توفيق سره.**

## ۵- د جنت د خزانو نه يوه خزانه

✿ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. (بخاري بمع فتح، مسلم)

**ژباړه: نشته طاقت او قوت ( د ګناه نه د ساتلو، او د نيکيو د کولو ) مګر د يو الله ﷻ په مدد او توفيق سره.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶- په نبي ﷺ باندې په کثرت سره درود ویل

نبي ﷺ فرمایي "څوک چې پرما یو ځل درود ووایي نو الله ﷻ به پر هغه لس ځلې رحمت ووایي" (مسلم)

نبي ﷺ فرمایي "بې له شکه الله ﷻ لره په ځمکه کې ګرځیدونکې فرښتې دي چې زما د امت سلام ماته رسوي." (مسند احمد)

یادونه: د درود مختلف الفاظ له رسول الله ﷺ څخه ثابت شوي دي. خو تر ټولو غوره ابراهیمي درود دی.

ابراهیمي درود: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: الهي! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر اهل وعيال درود ولیږه، لکه څنګه چې دې پر ابراهيم علیه السلام او د ابراهيم علیه السلام پر اهل وعيال درود لیږلی دی، په رښتیا سره ته ستایلی شوی یې، د لویي خاوند یې.

الهي! برکت نازل کړه پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر اهل وعيال باندې، لکه څنګه چې دې برکت نازل کړی دی پر ابراهيم علیه السلام، او د ابراهيم علیه السلام پر اهل وعيال باندې، په رښتیا سره ته ستایل شوی، د لویی خاوند یې.

فضیلت: ابودرداء رضی الله عنه وايي: چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه څوک چې د سهار او ماښام پر وخت لس ځله پر ما درود واستوي، د قیامت په ورځ یې زما شفاعت په نصیب کیږي. (مجمع الزوائد)

❁ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ. (نسائي)

ژباړه: الهي! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر اهل وعيال درود ولیږه.

❁ اللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلٰى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ. (مجمع الزوائد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه: الهي! زمونږ پر پيغمبر محمد ﷺ درود او سلام وليږه.**

## هره مياشت د قرآن کريم ختم

**رسول الله ﷺ فرمايي: «په مياشت کې يوځل قرآن کريم تلاوت کوئ».**

(ابو داود)

**په مياشت کې د قرآن کريم د ختمولو طريقه داده چې د هر فرض لمانځه نه وړاندې يا وروسته کم له کمه څلور رکوع تلاوت کړئ په دې طريقه به په شپه او ورځ کې يو ه پاره پوره کيږي که هره ورځ دا کار ترسره شي په ديرشو ورځوکې به قرآن کريم مکمل شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم باب

## د قرآن او مسنونه اذکارو په ذريعه علاج

د قرآن کريم آياتونه او د نبي کريم ﷺ مبارکې دعاګانې او اذکار الله ﷻ خپلو بندګانو ته له ظاهري او باطني امراضو څخه شفاء ګرځولي، الله ﷻ فرمايي: "مونږ په قرآن کې هغه څه را نازلوو چې د مؤمنانو لپاره پکې شفاء او رحمت دی" (الإسراء:۸۲)

له عوف بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: خپل دمونه ماته را وښيئ، کوم دم چې شرک ونه لري پروا نه کوي (يعني جواز لري). (مسلم)

جابر بن عبد الله رضي الله عنه فرمايي يو کس لړم و چيچلو او مونږ د نبي کريم ﷺ سره ناست وو نو يو کس وويل چې ای دې الله ﷻ رسوله آيا دم يې کړم نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي کریم ﷺ وفرمایل: ستاسې نه چې څوک خپل ورور ته ښیګڼه (فایده) ور رسولی شي نو دا کار د وکړي. (مسند أحمد)

د علماؤ پدې اجماع (اتفاق) دی چې په هر دم کې لاندې درې شروط پوره شي هغه جائز دی :

۱- د الله ﷻ په کلام (قرآن کریم)، د هغه په پاکو نومونو او صفاتو او د نبي کریم ﷺ په مأثورو اذکارو او دعاګانو سره دم کول.

۲- دم باید په لغت عربي او په با مفهومه الفاظو وي.

۳- دم کونکی باید پدې عقیده وي چې دا دم د الله ﷻ په اذن سره شفاء ورکوي. (فتح الباري ۱۰/۱۹۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شرعي رقية (دم)

په لاندې کرښو کې د قرآن کريم له آيتونو او د نبي کريم ﷺ له مبارکو احاديثو څخه د دم لپاره يو څو جامع اذکار ذکر کوو چې د الله ﷻ په اذن سره د هر مرض لپاره شفاء ده:

۱- سورة الفاتحه.

۲- آيت الکرسي:

﴿اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَ يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳- د سورة البقرة دوه آخري آيتونه :

﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللهِ وَمَلآئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لاَ نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ وَقَالُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ۞ لاَ يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لاَ تُؤَاخِذْنَا إِن نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلاَ تُحَمِّلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلاَنَا فَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ۞﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- درې آخري سورتونه درې ځلې:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۝ اللَّهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُواً أَحَدٌ﴾

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۝ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۝ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝ وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ ۝ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ﴾

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝ مَلِكِ النَّاسِ ۝ إِلَهِ النَّاسِ ۝ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۝ الَّذِى يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ۝ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- أَسْأَلُ اللهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ (اوه ځلې) (الترمذي، ابو داود)

۶- مريض د په خوږ من ځای لاس کیږدي او درې ځلې د (بِسْمِ اللهِ) ووايي او ور پسې د اووه ځلې (أَعُوذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ) ووايي. (مسلم)

۷- اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، أَذْهِبِ الْبَاسَ و اشْفِهِ أَنْتَ الشَّافِي لا شِفَاءَ إِلا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لا يُغَادِرُ سَقَمًا.

(البخاري، مسلم)

۸- أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ. (البخاري)

۹- أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰- أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ، مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَشَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَنْ يَحْضُرُون.

(ابو داود، الترمذي)

۱۱- أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لاَ يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ، وَلاَ فَاجِرٌ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، وَذَرَأَ وَبَرَأَ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَعْرُجُ فِيهَا، وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَأَ فِي الأَرْضِ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا، وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَمِنْ شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ إِلاَّ طَارِقًا يَطْرُقُ بِخَيْرٍ، يَا رَحْمَنُ. (مسند أحمد)

۱۲- اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ، وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، مُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالْقُرْآنِ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، أَنْتَ الأَوَّلُ لَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ لَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ لَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ لَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ. (مسلم)

۱۳- بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنٍ حَاسِدٍ اللَّهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ.
(مسلم)

۱۴- بِاسْمِ اللَّهِ يُبْرِيكَ وَمِنْ كُلِّ دَاءٍ يَشْفِيكَ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ وَشَرِّ كُلِّ ذِي عَيْنٍ. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵- بِسْمِ اللّٰهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ مِنْ حَسَدِ حَاسِدٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ اللّٰهُ يَشْفِيكَ. (ابن ماجه)

يادونه : له پورتنيو اذکارو لوستلو وروسته د د مريض خوږمن ځای په ښي لاس مسحه او لوستل شوي اذکار د پرې چف کړای شي.

(فتح الباري ۶۲/۹ – ۲۰۸/۱۰)

## د سحر (جادو) علاج په شرعي طريقه سره

## هغه څه چې د سحر (جادو) نه ځان پرې ساتل کيږي:

۱- ټول فرائض او واجبات ادا کول، له ټولو محرماتو ځان ژغورل او له ټولو ګناهونو څخه توبه ويستل.

۲- په کثرت سره د قرآن کريم تلاوت کول، هره ورځ بايد د قرآن کريم يوجزء (يوه برخه) تلاوت کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- آیت الکرسي له هر فرض لمانځه نه وروسته ،د خوب پر وخت، او د سبا او ماښام پروخت لوستل.

۴- معوذات (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ....، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ،.... قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ...) درې درې ځلې سبا، ماښام او د خوب پر وخت لوستل.

۵- د سبا او ماښام اذکار، له فرض لمانځه وروسته اذکار، او دخوب پر وخت اذکار په پابندی سره ویل. (البخاري،مسلم،الترمذي،ابوداود،الحاکم)

۶- د امکان په صورت کې د سهار په نهره اووه دانې عجوة خورما خوړل، نبي ﷺ فرمایي : څوک چې سهار اووه دانې عجوة وخوري هغې ته به پدې ورځ کې زهر او سحر څه زیان و نه رسوي. (البخاري، مسلم)

یادونه : د امام مسلم په یو روایت کې د مدینې منورې عامه خورما ذکر شوې، د بعضې علماؤ نظر دادی چې هره خورما وخوړل شي د الله ﷻ نه امید دی چې دا فایده به پرې مرتبه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## که چیرته په چا سحر وشي نو هغه (مریض) دلاندې لاره اختیار کړي:

۱- غالبا ساحران چې کله سحر کوي نو په یوه جامد او محسوس توکي یې کوي او بیا هغه چیرته پټ ایږدي او غوټې ورته لږوي. نو د سحر له منځه وړلو تر ټولو مؤثره لاره داده چې د امکان په صورت کې په مباحه طریقه هغه پیدا او ضایع کړای شي. (فتح الباري، زادالمعاد)

۲- د شرعي دم په ذریعه :

پورتني آیتونه او مسنون اذکار د (له ۱ نه تر ۱۵ پورې) ولوستل شي او په مریض د په پورتنۍ طریقه چف کړای شي.

۳- د امکان په صورت کې دې د سدر (بیرې) شنې پاڼې و ټکول شي او د غسل اندازه اوبو کې د واچول شي (که سدر نه وي نو ساده اوبه کفایت کوي) او دپورتنیو آیتونو (فاتحه، آیت کرسي، معوذات) سربیره (علاوه) دلاندې آیتونه هم پرې ولوستل شي، او له هغې اوبو نه د مریض

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مسحور) څه وڅښي او په پاتې د غسل وکوي، که ضرورت شو نو څو ځله د دا طريقه تکرار کړي، إن شاءالله شفاء ياب به شي.

(فتح الباري،مسلم،مصنف عبدالرزاق،زادالمعاد،فتح المجيد،فتح الحق المبين...)

۱- ﴿ وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ۞ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۞ فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانقَلَبُوا صَاغِرِينَ ۞ وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ ۞ قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ۞ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ۞ ﴾ (الأعراف:۱۱۷-۱۲۲)

۲- ﴿ وَقَالَ فِرْعَوْنُ ائْتُونِي بِكُلِّ سَاحِرٍ عَلِيمٍ ۞ فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ أَلْقُوا مَا أَنتُم مُّلْقُونَ ۞ فَلَمَّا أَلْقَوْا قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئْتُم بِهِ السِّحْرُ إِنَّ اللَّهَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سَيُبْطِلُهُ إِنَّ اللهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ ۝ وَيُحِقُّ
اللهُ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ ۝ ﴾
(يونس :۷۹-۸۲)

۳- ﴿قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ أَوَّلَ
مَنْ أَلْقَى ۝ قَالَ بَلْ أَلْقُوا فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ
يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَى ۝ فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ
خِيفَةً مُّوسَى ۝ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَى ۝
وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ
سَاحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى ۝ ﴾ (طه : ۶۵-۷۰)

۴- بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ
۝ لَا أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ۝ وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



أَعْبُدُ ۞ وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ۞ وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ ۞ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ۞﴾

## د نظر (سترګو) علاج

**له نظر لګيدو نه وړاندې تدابير :**

۱ – د بد نظر لګيدو نه د ځان ساتلو لپاره دې هغه ټول احتياطي تدابير اختيار کړای شي چې د سحر نه د ژغورنې لپاره پورته ذکر شول.

۲– څوک چې له خپلو سترګو ډاريږي چې بل څوک نظر نه کړي هغه ته پکار ده چې کله هم تعجب آور او د خوښې شی وګوري نو هغې ته دې د برکت دعا وکړي. (موطأ، ابن ماجه، أحمد)

او ودې وايي : ماشاءالله تبارک الله. لا حول ولا قوة إلا بالله. (زادالمعاد ).

۳– د چا د نظر کيدو احساس چې وشي د هغې محاسن بايد پټ کړای شي. (زادالمعاد، شرح السنة للبغوي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نظر لګيدو نه وروسته دهغې علاج

۱- که نظر کونکی کس معلوم شي د هغې نه باید و غوښتل شي چې اودس وکړي او بیا د په هغې اوبو نظر کړی شوی مریض غسل وکړي.

(سنن ابوداود، زادالمعاد)

۲- پورته ذکر شوی شرعي دم (له ۱ نه تر ۱۵ پورې) لوستل او هغه په مریض ور چف کول.

۳- پورته ذکر شوی شرعي دم (له ۱ نه تر ۱۵ پورې) لوستل او هغه په اوبو کې چف کول، او له هغې اوبو نه به نظر شوی مریض څه څښي او په پاتې به غسل کوي. (سنن أبوداود)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**